

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د وينو تښاکي

شاعر: مطيع الله رؤفي

کمپوز او ډيزاين: سردارشاه احسانمند

د پښتی ډيزاين: اخترعلي هوتک

شمېر: ۱۰۰۰ټوکه

د چاپ ځای: لومړی

چاپ کال: ۱۴۰۴المريز

خپرندوی: هېواد ادبي بهير

ډالۍ

د وينو تنـاکي!
دا کتاب زما د زړه د ارمانونو
هغه تناکي دي چې
د زړه په وينو خړوبې شوي،
د خيال په رنا رنګينې او
د خاموشۍ له منګولو
آزادې شوې دي.
دا هر هغه پښتون ته ډالۍ!
چې د شعر په خوند پوهيږي
او د وينو له تناکو هم
ګل جوړولی شي.
په ټوله پښتنه او شاعرانه مينه
مطيع الله رؤفي
جرمني د کولن ښار
۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۳

خپلې خبرې

د احساس او الهام د ځاځکو خونړۍ مجموعه هغه سفر دی چې د شاعر زړه پکې وينې شي او کاغذ پرې ګل شي، نو ځکه وايم چې شعر زما لپاره د احساس او ادراک ګډ انځور دی. زه شعر يوازې د الفاظو لوبه او پېيل نه ګڼم، بلکې د زړه هغه ناره يې ګڼم چې د انسان د دروني نړۍ له ژورې راپورته کېږي او د بل زړه تودوخه لمسوي. شعر زما لپاره د ژوندي ضمير رسا غږ دی، د روح له ژورې راغلی هغه الهام دی چې فکر، درد او ښکلا درې واړه په يوه خټه کې ګډوي.

زما په باور شعر هغه وخت ژوندی وي چې له زړه وزېږي. که شعر له زړه نه وي، نو که هر څومره ښکلی وزن او قافيه ولري، بيا هم بې ځانه غږ دی. زه شعر د وجدان او احساس د رڼا په توګه وينم، نه د تورو او تشبيهاتو د زرق و برق په بڼه. د شعر ژبه که ساده هم وي، خو که له اخلاصه ډکه وي، زړونه اغېزمنوي.

زما په نظر شاعر د وخت د زخمونو ډاکټر دی. مورږ هغه احساسات په کاغذ کې انځورو، چې نور خلک يې يوازې احساسوي، خو بيانولی يې نه شي. شاعر د خلکو د احساس استازی وي، د خاموشو زړونو غږ او د دردونو ژباړونکی. زه وايم شعر بايد د انسان د بدلون زېری وي، نه د مايوسۍ تصوير. شعر بايد د رڼا پيغام ولري، ځکه تياره پخپله ډېره ده، مورږ ته رڼا پکار ده.

زه شعر د خدای له ورکړو الهامونو يوه سپېڅلې ډالۍ ګڼم. کله چې زړه له احساسه ډک وي او فکر له وجدان سره يو ځای مل شي، نو کلمه خپله شعر کېږي. دا د الهام هغه شيبې وي چې انسان ته د خدای له لوري راښکته کېږي. شاعر يوازې يو وسيله ده، الفاظ د هغه د روح استازي دي. زما لپاره شعر د ژوند له دردونو نه تښتي نه، بلکې ورسره مخ کېږي. زه باور لرم شعر بايد د انسان د بيداری زنګ وي. د شعر موخه دا نه ده چې يوازې خواږه اوربدونکي پيدا کړي، بلکې دا دی چې د وجدان خوبولي راويښ کړي، د زړونو د تيارو پر ځای رڼا خپره کړي.

زه وایم شعر باید انسان ته د انسانیت احساس ورکړي. هغه شعر چې یوازې د ښکلا لپاره وي، ډېر ژر زړېږي، خو هغه شعر چې د وجدان له تودوخې راټوکېدلی وي، د وخت په تله کې هم تازه پاتې کېږي.
شعر زما لپاره د فکر او احساس د ګډ انقلاب پټ راز دی، یو داسې راز چې یوازې زړه یې درکولی شي، خو ژبه یې بیانوي. کله چې زه شعر لیکم، احساس کوم دا زه نه یم چې لیکم یې، بلکې زما دننه یو بل وجود دی چې د الفاظو له لارې خبرې کوي.
زه وایم شعر د ژوند د مانا ترجمانې ده. د خوښۍ او درد، د عشق او ایمان، د خاموشۍ او چیغې ګډ انعکاس دی. شعر د انسان دننه یوه مقدسه اوربله ده، چې که یې بله وسایې، ټولنه رنا کوي، خو که یې خاموشه او پټه کړې، نو نړۍ تیاره کېږي.
زه شعر د زمانې له نبض سره تړلی ګڼم. هغه شاعر چې د خپل وخت د خلکو احساس، درد او خوشالي درک نه کړي، د شعر له روح څخه لرې پاتې کېږي. شعر باید د انسان د تاریخ ژبه وي، د یوه ملت د احساساتو ژباړونکی او د راتلونکي د شعور زېرمې.
زه باور لرم شعر یوازې د لفظونو ښکلا نه ده، بلکې د فکر، تخیل، عاطفې، انځور جوړونې، نوښتونو او عقیدې ګډه ښکلا ده. شعر باید انسان ته لوری ورکړي، د وجدان غږ یې پیاوړی کړي او د ذهن زنګ وهونکي کړکۍ یې پرانیزي. شاعر هغه څوک دی چې د خلکو په منځ کې ژوند کوي، خو د دوی له احساساتو لوړ فکر کوي؛ دی هغه څوک دی چې د درد له اوره تېرېږي، خو د نورو لپاره رنا راوړي.
شعر زما لپاره یو امانت دی، یو مسوولیت. زه د شعر له لارې هڅه کوم د خدای د مخلوق زړونه یو له بل سره وتړم، د انسان او انسان تر منځ د احساس پُل جوړ کړم. شعر د انسان د وحدت ژبه ده، د الفاظو هغه مقدس سفر دی چې انسان له مادې نه روح ته رسوي.
زه وایم، شعر باید د رنا، امید او باور نغمه وي. دا هغه الهامي نغمه ده چې د انسان دننه د خدای د حضور احساس تازه کوي. هر بیت، هره مصرعه او هره کرښه یې باید د وجدان د راویښولو اوربله وي، ځکه

شعر يوازې د زړه خبره نه ده، بلکې د روح فرياد هم دی، هغه فرياد چې د تورو له منځه د رڼا غوښتنه کوي.
زه باور لرم چې شعر بايد تل د نوښت او حقيقت په لټه کې وي. شاعر بايد د خپلو کلماتو او احساساتو لپاره ريښتينی وي، ځکه يوازې په ريښتينولۍ کې هغه ځواک دی چې د خلکو زړونه په منګول نيسي.
شعر بايد د انسان د پوهاوي او فکر د پراختيا وسيله وي او د ټولنې د بدلون لپاره يوه کړکۍ پرانيزي.
شعر د ژوند يو لاربښود دی. کله چې زه شعر ليکم، ځان د وخت په اوږدو کې په يوې ژورې کشفي لاره کې وينم. هر بيت او هره کربنه د ژوند يوه تجربه ده، يوه زده کړه او يوه هڅه چې د نورو لپاره الهام وګرځي. شعر بايد د ژبې د بڼکلا تر څنګ د انساني ارزښتونو ژغورونکی هم وي.
زه وايم شعر بايد تل د محبت، انصاف او انسانيت د اصولو ملاتړ وکړي. شعر د ژبې د بڼکلا يوازې يوه برخه نه ده، بلکې د ټولنې د پوهاوي، د زړونو د رڼا او د انسان د پرمختګ يوه ځواکمنه وسيله هم ده. شاعر د نړۍ د دردونو او خوشالیو شاهد دی او د هغه قلم د حقيقت، رڼا، ژوندي ضمير او انساني احساساتو سرتېری دی.

په ټوله پښتنه او شاعرانه مينه
مطيع الله رؤفي
جرمني د کولن بښار
٢٠٢٥ د اکتوبر ٦مه

د مطيع الله رؤفي ژوند او فن

د کونړ د دنګو غرونو په لمنه کې، د بهانده سيندونو د اوبو د نرمو او روانو څپو پر غاړه، د سهار په لمرينو پلوشو او د شنو باغونو د ښايست په غېږه کې، د وټه پور ولسوالۍ د ارامو څنډو په زړه کې، يو ښکلي ماشوم نړۍ ته د ژوند د ښکلا سترګې وغړولې. دی د تقدير له لوحې د علم، احساس او هنر ليکلی نوم و. دا ماشوم مطيع‌الله ونومول شو، د عبدالروف قاضي زاده زوی، چې د ۱۳۴۶ لمريز کال د نرمو شېبو په لمن کې د خاورې پر دې مقدسه ځمکه راپيدا شو.
له ماشومتوبه يې ذهن د پوهې له لوخړې ډک و. د کونړ ولايت د وټه پور ولسوالۍ منځنی ښوونځی يې د علمي سفر لومړی تم ځای وګرځېد او په ۱۳۵۷ لمريز کال کې يې د زده کړو لومړۍ زينه تر شا پرېښوده. د عقل، فکر او استعداد لړۍ يې بيا تر کابل پورې ورسوله، هلته چې د کابل اوتومېخانيکي تخنيکم د ده د ژوند بله دروازه پرانېستله او دی د پرمختګ په خوا روان شو.
په ۱۳۶۴ لمريز کال کې يې له همدې تخنيکم څخه د بريالیتوب فراغت سند تر لاسه کړ او د خپلې وړتيا په برکت يې د بريښنا يا برق په ديپارتمنت کې د اسيستانت استاد په توګه دنده پيل کړه. دا د هغه د علم د رڼا لومړنی څرک و، چې وروسته يې د لا ډېرو ځلېدلو او پرمختګ سفر ته لاره هواره کړه.
د علمي تندې او پوهې د لټون دا شوق هغه د وطن له غرو واخيست او د نړۍ تر افقونو يې ورساوه. په ۱۹۸۵ ز کال کې د لوړو زده کړو د يو بورس له لارې د پخواني شوروي اتحاد د اوکراين جمهوريت د ادېسا ښکلي ښار ته ولاړ، هلته چې د راډيو خبرونو او راډيو ارتباط انجينرۍ په رشته کې د ادېسا د الکتروتخنيک انستيتوت ته د زده کړو د مينې په شوق شامل شو.
په ۱۹۹۲ز کال کې يې له همدې انستيتوت څخه د سور ديپلوم په ترلاسه کولو د ماسټرۍ درجه واخيسته او يو کال يې د دوکتورا لپاره د ستاژ يا امادګۍ مرحله هم بشپړه کړه، خو د ژوند د چاپېريال ځينې ناخوالې او د زماني نااشنا څپې د دې لامل شوې چې د دوکتورا سفر

يې نيمګړی پاتې شو، خو د علم او معرفت رڼا يې له سره هېڅکله هم ورکه نه شوه، دی لا هڅېده چې د خپلو زده کړو نيمګړی بهير بېرته پيل او خپله دوکتورا بشپړه کړي، خو د تقدير او قلم فيصلې نورې دي چې انسان ورته له فکر کولو هم عاجز دی.

هماغه و چې ښاغلي: مطيع الله رؤفي له خپلې درنې کورنۍ سره د کډوالۍ ديار ته مخه کړه او د خپل وطن له هسکو غرونو واوښت، دومره لرې ولاړ، لکه سمندر چې پر مخ ځي او شاته نه راګوري، خو ده بيا هم سترګې د وطن په خوا اړولې، مګر هغه وخت حالات داسې و چې د بدبختې کورنۍ جګړې بدمرغه لاس د هېواد ټولې لمنې ته ورغځېدلی و، نو دی له هوسه نه، بلکې د نورو انسانانو په څېر له مجبوريته وکوچېد او المان ته ولاړ.

له ۱۹۹۴ ز کال راهيسې مطيع الله رؤفي له خپلې درنې کورنۍ سره د المان د کولن ښار اوسېدونکی دی، خو کله ځوک د وطن له بوی، له خاورې، له احساس او له تودې مينې خبرې وکړي، نو ده ته داسې ښکاري، لکه په کونړ کې چې د سيند د روانو اوبو څپيز شور اوري، يا د کابل د مابښام د آذان زړه رابښکوونکی غږ. دی له هېواده لرې دی، خو د وطن تود احساس يې په وينه کې څپې وهي او د ولس مينه يې د زړه د رګونو د تپيدو موسيقي ده.

مطيع‌الله رؤفي يوازې يو تخنيکي يا علمي انسان نه دی، هغه د وطن بې کوره شويو کډوالو غمخور، يو شاعر، ښه ليکوال او يو ويارلی فکري انځورګر دی. د ده شعر د احساس انځور دی، د ملت د درد ژبه ده، د ټولنې د زخمونو تصوير دی. ده په خپلو شاعرانه بيتونو او غزليزو پنځونو کې د وطن د مينې تاوده څاڅکي شاعرانه کړي، د ولس د ژوند کيسې يې د کلماتو په موسيقۍ بدلې کړي او د زمانې د ترخو حقيقتونو له خاورې يې د شعر د لمر وړانګې راويستلې دي.

د ده شاعرۍ ته که د يو ښه فنکار، هنرمند او د حساس زړه له سترګو وکتل شي، نو داسې ښکاري لکه يو انځورګر چې د رنګونو پر ځای د احساس، درد او مينې له رڼا کار اخستی.

هر شعر يې د يو ماهر انځورګر د خيال يو رونړ خط دی او هره کرښه يې د يو صادق انسان د زړه د درزا غږ.

لکه وايي: د قام په غم کې چې ځوک مړ شي مړ يې نه بولمه
مطيع د مينې د رشتې خبرې دي د ثواب

مطيع‌الله رؤفي يو پښتون مزاجه شخصيت دی، د غرونو د مېرانې، د انسان دوستۍ، د مهربانۍ او صداقت استازی. د ده له خبرو، چلند او ليکنې د انسانيت، وفاداریٔ او وطن پالنې خوږه وږمه تر مشامه راځي. له ټولنې سره يې مينه دومره ژوره ده چې د هر درد پر وړاندې يې دردمن دی. که د خلکو غم وي، که د وطن درد او که د بې‌عدالتۍ زخم، خو د ده په شعر کې يې رنا شته، احساس شته او داسې دروند فرياد هم:

که ځوک غوځ کړي زما سر زما له تنه
ستا له عشقه به وانه وږمه وطنه
ستا اوبه لکه شيدې د خوږې مور دي
پاکه خاوره او سپيڅلې دې لمنه

ده د خپل ژوند ډېره برخه د هېواد او ولس د خدمت په لاره کې تېره کړې. که څه هم له وطنه لرې دی، خو فکر، احساس او مينه يې وطن ته ژمن پاتې دي. ده خپل احساسات د وطن په فضا کې خپاره کړي او د هنر، علم او ادب له لارې يې تل هڅه کړې چې د انسانيت رنا ژوندۍ وساتي.

مطيع‌الله رؤفي د فکر او احساس هغه ژوندی ضميره انسان دی چې د ژوند په هر څېرکي کې يې د مينې او وجدان ژوندي انځورونه پرېښي دي. د ده ژوند د علم، خدمت، ادب او هنر ګډ سفر دی، يو داسې سفر چې د انساني او خلاقي ارزښتونو، وفاداریٔ، وطن پالنې، شاعریٔ او پوهې رنا تري ځاځي. په ډېره مينه

سردارشاه احسانمند
کابل، ملي راډيو تلويزيون، د مستنداتو امريت
۱۴۰۴ لمريز کال د تلې ۷مه

ځانته مې ګنډلی لباس نه راځي

شعر د انسان د زړه د عواطفو او احساساتو هغه ژوره ژبه ده چې د سترګو له اوښکو، د زړه له سوز او د ذهن له نه ختمېدونکو طوفانونو څخه ترکیب کېږي. دا د هغو احساساتو نازکه ترجماني ده چې په ساده خبرو نشي بیانېدای. د شعر نړۍ د رنګونو، دردونو، د سترګو لیدلو انځورونو، خوالو ناخوالو، تشبیهاتي خیالونو، استعارو او احساساتو یوه ښکلي مجموعه ده چې هر څوک یې اوږدل خوښوي، خو لیکلی یې یوازې هغه خلک شي چې د زړه په تل کې یې د درد نهار او د احساس سیند روان وي.

همدا سیند دی چې د ښاغلي: مطیعالله رؤفي له فکره بهېږي؛ هغه فکر چې د وطن د سوزنده ورځو، بې وسۍ، مهاجرت، بېلتون او ناخوالو داغونه پرې لګېدلي دي. هغه هر بیت چې رؤفي یې په قلم اړوي، د زخمي وطن د یوې سلګۍ انځور دی.

رؤفي د خپلې ټولنې د درد احساس له شعره پټول نه غواړي. هغه د شاعرۍ په ژبه د خپلې خاورې چیغې داسې تودوي چې لوستونکی د هرې کلمې په لمن کې د وطن زخمي روح لمس کړي.

لوی خوشحال بابا وایي:

پـــــه آســـــمان د ګنـــــو ســـــتورو شـــــمارول دي
شـــعر هـــم هســـې نـــه جـــوړېږي، دمـــاغ غـــواړي

دغه خبره پر هماغه لوري اشاره کوي چې شعر د تصنع، حساب او شمېر کار نه دی. شعر د زړه او روح خبرې دي او روح د کوم شمېر دایره نه مني. رؤفي هم د همدې نړۍ شاعر دی، هغه شاعر چې د غم او زړورتیا ستوري له سرحده وباسي او د کلمو په آسمان کې نوي نقشونه جوړوي.

کله چې مې د مطیع الله رؤفي کتاب وکاته، د غزل رنګ یې غالب و. په دې غزلونو کې ډېرې ترکیبونه بې ردیفه وو، خو د قافیې د زور په وسیله یې د ردیف اړتیا پوره شوې وه. په شاعرۍ کې دا یو مسلکي جواز دی، خو په هغو شعرونو کې چې د قافیې، ردیف، وزن، تخیل او

عاطفي ټول رکنونـه سره يوځـای شـي، نـو د شـعر ښـکلا ځـو برابـره ډېريږي. روڼي له احساسه پېل کوي او احساس ته وړاندې د قالب فکر نه کوي. دا د هغه د شاعرۍ ښه ځانګړتيا ده، ځکه اصلي شعر هغه دی چې د زړه له سوز راټوکېږي، نه هغه چې لومړی ورته وزن جوړ شي او بيا لفظونه ورپسې راټول شي، خو سره لـه دې، هغـه ترکيبونـه چـې روڼي پـه خپـل فکـر او خپـل احسـاس جـوړ کـړي، د زړه لـه تـل ځخـه راوتلي ژړا ته ورته ښکاري. د بېلګې په ډول:

غـــم دي دومـــره ډېـــر اوبـــه، اوبـــه کـــړم چـــې
ځـــان تـــه مـــې ګنـــډلی لبـــاس نـــه راځـــي

دا يوازې يو بيت نه دی؛ دا د يوې ستړې، يتيمـې، زخمـي او د سـتورو لاندې پرېښودل شوې ټولنې فرياد دی. داسې فرياد چې د هـر افغـان پـه زړه کې يې اور بل کړی.

رامعلومېږي چـې د وطـن د مظلوميـت پـه تـودو لمبـو کـې زمـوږ ټـول وجود داسې سوځېدلی چې نور هېڅ يـوه جامـه يـې تـن تـه نـه رغېـږي. جامه مبالغه ده، دلته مراد عزت، ارامتيا، امنيت، باعزته ژوند او د سـاه اخيستلو حق دی.

په بل ځای کې وايي:

د ټوپـــک ميـــل يـــې د ورور پـــه تنـــدي ايښـــی
ځـــه حاجـــت يـــې د ســـلا لـــه پـــاره نـــه شـــته

دا بيا د دې خاوری هغه بې رحمه حقيقت انځوروي چې ورور د ورور په تندي د ټوپک ميل ږدي. دا يوازې د شعر کلمه نـه ده؛ دا د تـاريخ پـه تندي ليکل شوی داغ دی. دا د هغو خلکو عکس دی چې د خپل نفس پـه غلامۍ کې ورور وژني او د دې کار مشوره يوازې له خپـل اژدهـاري نفس سره کوي.

حميد بابا ورته ځومره کراره، خو سخته خبره کړې:

هـــر ســـردار چـــې د خپـــل قـــوم د بـــدو خيـــال کـــا
آينـــــه دې د خپـــــل ځـــــان حـــــال د جمـــــال کـــــا

عاقبـــت هغـــه ســـردار شـــي مـــردار پـــاتې
چـــې يـــې نـــس د بـــل و بـــدو تـــه لېـــوال کـــا

ښاغلی: روڼي په همدې روښانه لاره روان دی، هغه درد ليکي چې يې ليـدلی، هغـه چيغـه ليکـي چـې يـې اورېـدلې او هغـه زخمـي حقيقـت انځوروي چې له سترګو يې تېر شوی دی.
که څه هم روڼي له خپلې خـاورې لـرې دی، مسـافر دی او د پرديـو تـر منځ ژوند تېروي، خو د مورني وطن او ژبې مينـه يـې لا هم د زړه پـه کور کې شنه ده. د ژبې د زړورتيا، ښکلا او پياوړتيا لپـاره يـې هڅـې د ستاينې وړ دي. هغـه خپلـه ژبـه د مهـاجرت پـه دوړو کـې نـه ده پـرې ايښې؛ په پردۍ فضا کې يې د خپل وطن د کلمو امساء ټينګه نيولې ده.
د هغه احساس د زېب‌النساء مخفي په دې بيت کې ښه رانغاړل کېږي:

مـنم «مخفـي» ام چـون بـوی گـل در بـرگ گـل
اگـــر ميـــل داری بينـــی، در ســـخن بـــين مـــرا

د ښاغلي: روڼي په اشعارو کې داسې کليوالي لهجې او ګړنې هم شـتون لري چې يو لوستونکی تر تېرو زمانو پورې رسوي.
هغه بيتونه چې د کليوالي لهجې په خـوږوالي رنګـين شـوي، د شـاعر د بـاطني صـداقت او د وطـن د خـاورو او خټـو لـه بـوی سـره ژور تـړاو څرګندوي. دا کلمې د مصنوعي ښايست نـه، بلکـې د احسـاس لـه لمـدې خاورې راشنې کېږي او همدا يې ښکلا څو برابره زياتوي.

ســـتا پـــه عشـــق کـــې د جنـــون تـــر کچـــې لاړم
بـــې لـــه تـــا مـــې دا خپـــل ځـــان دی فرامـــوش
چـــــې د قـــــام د غـــــدارانو څهـــــرې ويـــــنم
د بـــدن وينـــې مـــې ســـم راشـــې پـــه جـــوش

په دې څلورو کربنو کې د عشـق تـود سـوز د غيـرت لـه غږ سـره ګډ شوی دی. لومړی بيت د يوې هيرې شوې هستۍ انځور وړاندې کـوي، خو شـعر پـه ناڅـاپي بـدلون سـره د ټولنيز درد پـه سـتره څېـه بـدلېږي. شاعر چې د قوم د غدارانو څهرې ګوري، د وينې په تودښدو يـې د زړه

ترخي چيغي اورېدل کېږي. دا د عشق له نرمي فضا څخه د غيرت ميدان ته د شعر ښکلی انتقال او د شاعر د احساس د صداقت ښکارندوی هم دی.

هر سهار چې په غاټول پرخه ورېږي
داسې زړه باندې مې ستا ياد را ورېږي
د تقدير په زولنو کې راحصار يم
بد نصيبه شومه، يار رانه ېلېږي

په دې شعر کې د طبيعت نرمه هوا د يادونو تود انځور ګرځېدلی. د غاټول پر پرخه د محبوب ياد د زړه پر پانه، لکه تازه د اوبو څاڅکي پرېوځي، خو ورپسې د تقدير ظالمانه قيد د شاعر د مجبوريت تور سيوری خپروي. د «بد نصيبه شومه» کليوالي ژبه هغه سوز لري چې له کتابي فصاحت نه ډېر اغېزناک دی. دا د يوه ټپي روح ساده، خو څومره ژور اعتراف دی.

سرې غوټې له ګل جلا شوم، غورېدو ته پاتې نه شوم
ژړا، اوښکې، واويلا شومه، سلګو ته پاتې نه شوم
په سينه يې د چرو کرښې راتېرې کړې زخمي يم
ناسور شوي مې زخمونه جورېدو ته پاتې نه شوم

دغه کلام د شاعر د وجودي درد هماغه بخښل کېدونکي ژړا ده چې د غوټې په ويرِ ژړاند حالت کې انځور شوی. شاعر ځان د يوې سرې غوټې په شان ګڼي چې له اصله جلا شوی او د غورېدلو له وخته مخکې ځمکې ته غورځېدلې ده. د «چرو کرښې» په استعاروي بڼه د عمر ټپونه د توری، نيزې او نه بخښونکې وسلې غوندې را څرګندوي. د ناسور ټپونو يادونه د هغه اوږده درد غږ دی چې نه يې وخت رغوي او نه شرايط پرې مرهم کېږدي. دا ځلور کرښې د يو ټپي، خو نه تسليمېدونکي انسان د شاعرانه پيغام او د سترې مبارزې د خورو الفاظو ناويلی اواز دی.

پورته بيتونه د ښاغلي: رؤفي د شاعرانه ژوروالي ثبوت دی. ښځينی شاعر همدا دی چې د زړه په ساده کلمو کې د انسان د ټول عمر دردوونکې نښې خوندي کړي.
په ټوله کې ويلی شم چې (د وينو تنډکي) د داسې جلا وطنې شاعر د شعرونو خوندوره ټولګه ده، چې شعر يې د خپل وطن، خپلې ژبې او پښتون ولس له درده انعکاس موندلی دی. د ده خوږو لفظونو، کلمو او تورو د پيغام رسولو په لږډ کې اهم کردار لوبولی او په ډېر ساده شاعرانه انداز يې په ساده خبرو کې ډېر داسې څه وړاندې کړي چې په لوستلو او اورېدلو يې د ستړيا احساس ځکه نه پيدا کېږي چې د وخت حقيقتونه دې نېغ په نېغه سترګو ته دروي.
په پای کې ښاغلي: مطيع الله رؤفي صاحب ته له زړه د بريا دعا کوم، هيله ده چې قلم يې همداسې تاند، ژور، له احساساتو ډک او د حقيقتونو ښکارندوی پاتې شي.
زه هيله مند يم چې د شعر په ژبه د خپل ملت زخمونه نور هم ښکاره کړي، د درد ژبه يې لا قوي شي او د خپل قلم له لارې د مظلومو افغانانو غږ تر بل هر انسانه ورسوي.

په درنښت
نظيرالحق قريشي
د هېواد ادبي بهير د لغمان ولايت فرهنګي استازی
۱۴۰۴لمريز کال د لېندۍ ۱۱مه

د يو مبارز شاعر د وينو تښاکي

نړۍ ځلوېښت کاله کېږي چې ښاغلی مطيع الله روڼي پېژنم ، يو ژبور، زړور او مبارز انسان دی. په يوې درنې او مخورې کورنۍ کې زېږېدلی او خپل ار او نسب يې تر دې دمه په ښه ډول پاللی دی.
مطيع الله روڼي د ښوونځي له زده کړو رانيولې بيا د نيمه او لوړو زده کړو په ټول بهير کې د يو هڅاند او مبارز انسان په توګه راڅرګند شوی دی. هغه پر ټولنيزو او سياسي خدمتونو سربېره داسې کلتوري فعاليتونو ته هم لاس غځولی و، چې په ټولنه کې د ځينو خلکو د ذهنې فضا خلاف ګټل کېدل. روڼي صيب يو وخت په ملي راډيو ټلوېزيون کې تر خپله وسه هغه هنري خلا ډکه کړه چې د پښتو تمثيل په برخه کې موجوده وه، ده له يو ټولنيز جرأت څخه کار واخيست او دا کار د دې سبب شو چې وروسته په ملي راډيو ټلوېزيون کې د پښتو تمثيل برخه بډايه شي.
کله چې په نوييمو کلونو کې جرمني ته مهاجر شو، بيا يې هم د ټولنيزو او فرهنګي خدمتونو لمن خوشې نه کړه. د مشاعرو، مظاهرو او فرهنګي غونډو په جوړونه کې يې له خپلو نورو ملګرو سره خپله اساسي ونډه واخيسته، د دې تر څنګ يې د کتابونو په چاپ کې هم خپله مرسته ونه سپموله.
له دې پورته څرګندونو څخه زما هدف دا دی چې قدرمنو لوستونکو ته دا لا ښه څرګنده شي چې (د وينې تښاکي) شعري جونګ کې موږ يوازې له يو شاعر سره مخامخ نه يو، بلکې د يو داسې ټولنيز مبارز له شخصيت سره مخامخ يو چې په عملي او نظري ډول يې د خپل ملت د هوسايني او ذهني تنوير لپاره ډېر څه کړي دي.
انسان تر خپله وسه مسوليت لري. په کوم چاپېريال کې چې مطيع الله روڼي د ځوانۍ ډېر عمر تېر کړی، که د هغه چاپېريال فرهنګي او ټولنيزې ستونزې له نظره تېرې کړو، نو په څرګند ډول ويلی شو چې تر دې زيات کار په کې شونی نه و. دا کارونه چې روڼي صيب ترسره کړي دا يې د ژوند د ډېرو خطرو د زغملو په بيه تر سره کړي دي، دا ډول کارونه د هر چا په وس پوره نه وو.

کله چې (د وينو تىاکي) ګورو، نو د يو مظلوم او محکوم ملت بېلابېل انځورونه مو تر سترګو تېرېږي، خپله رؤفي صيب بيا د همدې پېښو يو څرګند کرکټر دی.
دې شعري غونډ کې يو شمېر شعرونه د شعر پر معيارونو ښه پوره برابر دي، خو يو شمېر نظمونو کې بيا د مانا بار د شعر د ښکلا پر څانګو خپل وزن زيات کړی دی، خو په ټولیز ډول رؤفي صيب د شعر ډېره قوي قريحه او استعداد لري، دفعتاً فی البديحه شاعري هم کوي او د ستېج د چارو د پرمخبيولو ښه وړتيا هم لري.
زه نه غواړم ټولي خبرې په همدې يوه سريزه کې راټولي کړم. دا شعري جونګ ستاسو په لاسو کې دی، خپله به درسره خبرې وکړي او ډېر هغه څه به درڅرګند کړي چې په يوه ليکنه يا سريزه کې يې د څاييدنې امکان نه وي.
د اوس له پاره همدومره. رؤفي صيب ته د لازياتو فرهنګي او ادبي بریاوو هيله لرم.

په درنښت
محمد اسمعيل يون
۱۴۰۴ د لېندۍ ۱۵مه

يـــا خـــو ټولـــه دنيـــا ورانـــه کـــړه خالقـــه
يـــا زمـــونږ دنيـــا ودانـــه کـــړه خالقـــه

څـــه ګنـــاه ده رانـــه شـــوې ســـتا پـــه حـــق کـــې
دا ګنـــــاه راتـــــه روښـــــانه کـــــړه خالقـــــه

هـــــره ورځ مـــــو پـــــر لمنـــــه اور بلېـــــږي
د غـــم شـــپې پـــر مـــونږ اســـانه کـــړه خالقـــه

د وطـــــن د امـــــن غېـــــږه کـــــربلا شـــــوه
نـــور مـــو خـــلاص لـــه دې طوفانـــه کـــړه خالقـــه

نـــو تـــر څـــو بـــه پـــه ســـرو وينـــو کـــې لمبېـــږو
د دې وينـــــې بيـــــه ګرانـــــه کـــــړه خالقـــــه

هـــــره لاره رانـــــه ورکـــــه د منـــــزل ده
زمـــونږ د بخـــت بېـــړۍ روانـــه کـــړه خالقـــه

رؤفـــــي يـــــې نـــــور زوال ليـــــدلی نشـــــم
ولـــس خـــلاص مـــې لـــه نيرانـــه کـــړه خالقـــه

یـــــار زمـــــا د زړه ســـــپیې بانـــــدې ولاړ دی
لکـــــه لمـــــر د غـــــره پـــــه ژې بانـــــدې ولاړ دی

آســـمان ځمکـــه یـــې لـــه مخـــه رنـــا اخلـــي
د مـــخ نـــور یـــې پـــه ســـپورمې بانـــدې ولاړ دی

یـــادوي مـــې یـــو مـــرې مـــې نـــه تېرېـــږي
ځکـــه هټکـــې مـــې مـــرې بانـــدې ولاړ دی

مـــازدیګر دی د کـــور خـــوا کـــې یـــې تېرېـــږم
هـــر نظـــر مـــې پـــه بلـــې بانـــدې ولاړ دی

د بخـت سـتوری مـې نـن بیـا ورېځـو کـې پـټ شـو
خـــوار نصـــیب مـــاتې ببـــرې بانـــدې ولاړ دی

کـــه پـــر زړه یـــې خـــدای د رحـــم اوبـــه تـــوی کـــړي
رؤفـــــــي ورتـــــــه زارې بانـــــــدې ولاړ دی

څنګـــه بـــه مـــې زړه تـــه وســـواس نـــه راځـــي
يـــاره چـــې ســـتا زلفـــې پـــه لاس نـــه راځـــي

غـــم دې دومـــره ډېـــر اوبـــه، اوبـــه کـــړم چـــې
ځانتـــه مـــې ګنـــډلی لبـــاس نـــه راځـــي

دومـــره مـــې تـــاوان درپســـې کـــړی دی
هـــېڅ يـــې انـــدازه او قيـــاس نـــه راځـــي

خـــدای خبـــر چـــې څنګـــه دې راخپلـــه کـــړم
دا ښـــکلی هنـــر او اســـاس نـــه راځـــي

ځـــان لـــه رقيبـــانو خلاصـــوی نشـــم
هـــېڅ خـــو رالـــه چـــل د خنـــاس نـــه راځـــي

څـــو چـــې راپســـې د بـــدو ســـترګې وي
ماتـــه خـــو د وصـــل احســـاس نـــه راځـــي

تـــه کـــه خپلـــه لاره تـــرې بدلـــه کـــړې
بيـــا نـــو لـــه اغيـــاره هـــراس نـــه راځـــي

ناســـت يمـــه پـــه تمـــه ســـتا اقـــرار تـــه زه
مـــا مطيـــع تـــه کـــوم التمـــاس نـــه راځـــي

يـــاره ســـتا د ســـترګو خيـــال مـــې زنګـــوي
ســـتا پـــه يـــاد کـــې هـــر مهـــال مـــې زنګـــوي

ســـتا لـــه غمـــه بـــه خـــود وچـــې شـــوندې ګـــرځم
شـــپه او ورځ د فکـــر ټـــال مـــې زنګـــوي

بېلتانـــه دې دومـــره ډېـــر اوبـــه، اوبـــه کـــړم
لکـــه لښـــته هـــر شـــمال مـــې زنګـــوي

تـــورو زلفـــو دې تړلـــی بنـــد پـــه بنـــد يـــم
او پـــه زنـــه دې شـــين خـــال مـــې زنګـــوي

د ماضـــي لـــه بـــې کســـی نـــه رابهـــر شـــوم
خـــو د مينـــي غـــم فـــی الحـــال مـــې زنګـــوي

رؤفـــي مـــا د لفظونـــو هنـــر زده کـــړ
د غزلـــو سُـــر او تـــال مـــې زنګـــوي

رټ ځـــواب راکـــړ همـــدم زړه مـــې خفـــه دی
پـــــه ژړا لکـــــه شـــــبنم زړه مـــــې خفـــــه دی

ناســـور زړه مـــې ســـتا د مينـــې وصـــال غـــوارې
راشـــه کېـــږده پـــرې مـــرهم زړه مـــې خفـــه دی

مـــا ويـــل نـــور بـــه يـــوه اوښـــکه هـــم تـــوی نـــه کـــړم
هېـــر مـــې نـــه کـــړو داســـتا غـــم زړه مـــې خفـــه دی

محبـــــــت اوړه کېـــــــده د خـــــــام وجـــــــود دي
زمـــــا ســـــر پکـــــې قلـــــم زړه مـــــې خفـــــه دی

ســـتا فـــراق کـــې هـــره ورځ مـــې دغـــه چـــاره
ســـترګې ډکـــې مـــې لـــه نـــم زړه مـــې خفـــه دی

شـــکر لبـــې ســـتا د شـــوندو خـــوارې غـــوارم
دا خـــــوارې راکـــــه صـــــنم زړه مـــــې خفـــــه دی

عمـــر ولاړ خـــو لـــه مطيـــع نـــه هېـــره نـــه شـــوې
يـــــادوم دې دم پـــــه دم زړه مـــــې خفـــــه دی

ديـــدن بـــه وکـــړو د کعبـــې خبـــرې دي د ثـــواب
رائـــه چـــې ورشـــو مـــدينې خبـــرې دي د ثـــواب

ښـــايي غـــرور او کبـــر شـــان د ســـتر خالقـــه ســـره
پـــه عـــاجزۍ وړې، وړې خبـــرې دي د ثـــواب

دومره دې بد يم عـادت کړی چـې غـوږ، غـوږ يـم درتـه
پـــه زړه کـــافرې ســـتا د خـــولې خبـــرې دي د ثـــواب

چـــې عاشـــقان يـــې ســـپکې ســـپورې ملغلـــرې بـــولي
نـــو دا ترخـــې د معشـــوقې خبـــرې دي د ثـــواب

د مينـــانو خلـــوت وي تـــل د ســـپورمۍ پـــر لمـــن
تـــود ملاقـــات دی او د شـــپې خبـــرې دي د ثـــواب

چې غمـازان وي پـه کوڅـه کـې پـه خولـه لاس بـه نيسـې
پـــه داســـې وخـــت د اشـــارې خبـــرې دي د ثـــواب

ژبـــه لنـــده ده خـــو پـــه ښـــو بانـــدې عـــادت شـــي بايـــد
ځکـــه ترخـــو ځخـــه خـــورې خبـــرې دي د ثـــواب

د رب ثنـــاء چـــې پکـــې وايـــې نفـــرت نـــه وي پکـــې
نـــو د منـــدر او بتخـــانې خبـــرې دي د ثـــواب

د قام په غـم کـې چـې ځـوک مـړ شـې مـړ يـې نـه بولمـه
مطيـــع د مينـــې د رشـــتې خبـــرې دي د ثـــواب

مينه څه ده؟

مينـــه څـــه ده تـــل وصـــال تـــه رسـيدل دي
مينـــه څـــه ده پـــه بښـــکلا کـــې ډوبيـــدل دي

مينـــه ځـــه ده طلايـــي رنګـــين خوبونـــه
مينـــه څـــه ده پـــه زلفـــانو زنګيـــدل دي

مينـــه څـــه ده زړه منلـــى يـــو جانـــان دى
مينـــه څـــه ده پيمـــانو کـــې لمبيـــدل دي

مينـــه څـــه ده د جانـــان عشـــق او عشـــرت دى
مينـــه څـــه ده پـــه احســـاس کـــې ګرځيـــدل دي

مينـــه څـــه ده يـــو ســـرور دى او خوندونـــه
مينـــه څـــه ده غيـــږ پـــه غيـــږه کـــې نيـــول دي

مينـــه څـــه ده د محبـــوبې انتظـــار دى
مينـــه څـــه ده د خوبـــانو بښـــکلول دي

مينـــه څـــه ده تـــش دردونـــه او فـــراق دى
مينـــه څـــه ده د يـــار غـــم کـــې ژړيـــدل دي

مينـــه څـــه ده ســـوز ژړا ده
مينـــه څـــه ده خـــو ديـــدار لـــره ورتلـــل دي

مينـــه څـــه ده د مطيـــع د زړه آواز دى
مينـــه څـــه ده لـــه خپـــل يـــار قربانيـــدل دي

ســـترګې رانـــه واړوه ســـتونه مـــې پکـــار نـــه دي
بـــې لـــه محبتـــه ســـلامونه مـــې پکـــار نـــه دي

مـا چـې پـه مابنـام کـې مسـتوی نشـي او څکمـه يـې
نـور نـو د سـاقي د لاس جامونـه مـې پکـار نـه دي

ډېـر کلونـه وشـول چـې د يـو بـل څهـره نـه ګـورو
داسـي چـې مـو پيـل وي انجامونـه مـې پکـار نـه دي

ګـل کـې چـې خوشـبو د يـار د زلفـو محسـوس نـه شـوله
مـه راځـه سـپرليه سـتا ګلونـه مـې پکـار نـه دي

زه د نفرتونـو لـه دنيـا نـه سـترې راغلمـه
مينـه درنـه غـوارم نفرتونـه مـې پکـار نـه دي

ډېـر راتـه مهـم دی چـې عمـل باندې عمـل وکـړو
تـش خـالي يـوازې شـعارونه مـې پکـار نـه دي

سـتا د ښايسـت حـق چـې پـه لفظونـو يـې ادا نشـي
ګـوره مطيـع داسـي الهامونـه مـې پکـار نـه دي

شرابي او مې پرست دی بنه بنکاره او په جار وايم
هر عاشق په مينه مست دی بنه بنکاره او په جار وايم

پرې مين يم دا مې حق دی خولـه ترې غواړم
دا په نره مې جرأت دی بنه بنکاره او په جار وايم

کـــه د قـــام د آزادۍ او خپلـــواکۍ خبـــره کېـــږي
نو اواز زما اوچت دی بنه بنکاره او په جار وايم

قربانۍ ته يې تيار په مال او سر يم څو چې يمه
دغه مينه عبادت دی بنه بنکاره او په جار وايم

په سفر وم تېرې نه شوم توښه ستا چې راسره وه
ستا د سپيڼي خولې شربت دی بنه بنکاره او په جار وايم

نوبهار دی سره غوټۍ يې اې زما د ګلو څانګې
هر ښايست خو ستا صفت دی بنه بنکاره او په جار وايم

راځئ مينه سره وکړو چې نفرت په سيند لاهو شي
ژوند له مينې عبارت دی بنه بنکاره او په جار وايم

وطن مور ده قام مې زړه دی دا پر ما باندې يې پور دی
قربانۍ ته ضرورت دی بنه بنکاره او په جار وايم

دا ميراث مې د بابا دی مطيع نه ورنه تېرېږم
افغانيت زما هويت دی بنه بنکاره او په جار وايم

مـــا چـــې کلـــه د ســـرو ميـــو جـــام کـــړ نـــوش
ســـر تـــر پايـــه پـــرې خمـــار شـــومه مـــدهوش

ســـتا پـــه عشـــق کـــې د جنـــون تـــر کچـــې لاړم
لـــه تـــا پرتـــه دی خپـــل ځـــان مـــې فرامـــوش

د ناصـــح د نصـــيحت ځنځيـــر مـــې مـــات کـــړ
د رنـــدانو ســـره ځـــم شـــوم ميفـــروش

چـــې د قـــام د غـــدارانو څهـــرې ويـــنم
د بـــدن وينـــې مـــې ســـم راشـــي پـــه جـــوش

د ځوانـــــانو قربـــــاني د قـــــدر وړ ده
چـــې پـــه دار خيـــژي هغـــه دی ســـرفروش

ســـتا د مينـــې پـــه تـــور خټزمـــه چـــې دار تـــه
لـــه خوښـــې نـــه مـــې دا زړه کـــوي خـــروش

څـــوک دې نـــه اوري مطيـــع د زړه خبـــرې
بنـــه بـــه دا وي چـــې خولـــه بنـــده کـــړې خـــاموش

کـــه څـــوک غـــوځ کـــړي زمـــا ســـر زمـــا لـــه تنـــه
ســـتا لـــه عشـــقه بـــه وانـــه وړمـــه وطنـــه

قربـــــانی تـــــه دې ولاړ پـــــه دوه لاســـــي يـــــم
هـــر شـــهيد خـــاورو تـــه ځـــي بـــې لـــه کفنـــه

د نامـــــه نـــــه بـــــه دې هېڅکلـــــه تېـــــر نشـــــم
کـــه پـــه ســـر بانـــدې مـــې وګرځـــي مېچنـــه

معشـــــوقه د محبـــــت زمـــــا د زړه يـــــې
پـــر تـــا تېـــر يـــم لـــه خپـــل ځـــان لـــه خپـــل بدنـــه

ســـتا دا غرونـــه پـــه بـــاغونو بـــه ورنـــه کـــړم
خـــــړ ډاګونـــــه دې ښايســـــته لـــــه هرچمنـــــه

ســـتا اوبـــه لکـــه شـــيدې د خـــوړې مـــور دي
پاکـــــه خـــــاوره او ســـــپيڅلې دې لمنـــــه

پـــه فضـــاء بـــه دې خـــود هـــر ســـړی مـــين وي
خوشـــــبويي دې ده د مشـــــکو لـــــه ځُتنـــــه

رؤفـــي تـــه ډېـــر لـــه مـــور او پـــلار نـــه ګـــران يـــې
رالـــوی شـــوی ســـتا پـــه غېـــږ کـــې قدرمنـــه

د مينې سوال او ځواب

سوال ځواب کې راته وويل جانان
راته غوږ شه لږ مې واوره دا بيان

ما ويل نه اول زما خبرې واوره
دې ويل نه اورم خبرې پوچ داستان

ما ويل سترګې خدای درکړي بې نظيره
دې ويل دا بانې مې غشي او کمان

ما ويل ولې دې ګذار د غشو وکړ؟
دې ويل غواړمه چې يې ځپرې ګريوان

راته ويې کړې خبرې هسې رنګ
چې په زړه يې زما راوسته طوفان

ما ويل هربانې دې غشی د لينډي دی
دې ويل ولمه له مخې عاشقان

ما ويل وايه چې جفا دې ده نور ځومره؟
دې ويل زياته ده له ځاځکو د باران

ما ويل ولې يې مغروره دومره ډېره؟
دې ويل زيات مې تکبر تر هر انسان

ما ويل وايه د وصال شپه به شي کله؟
دې ويل پاتې ورته ډېر وخت او زمان

مـــا ويـــل غواړمـــه ديـــدن دې ژر تـــر ژره
دې ويـــل نـــه کېـــږي ديـــدن دومـــره اســـان

مـــا ويـــل ګـــوره چـــې ديـــدن تـــه دې درځمـــه
دې ويـــل دارتـــه بيـــا تيـــار دې کـــه خپـــل ځـــان

مـــا ويـــل ګـــوره لـــه دې ژونـــد نـــه مـــرګ بهتـــر دی
دې ويـــل مينـــه ده يـــو خيـــال او يـــو رومـــان

مـــا ويـــل خـــدای لپـــاره يـــو ځلـــي زمـــا شـــه
دې ويـــل نـــه بـــه شـــي پـــوره دې دا ارمـــان

مـــا ويـــل ګـــوره رؤفـــي دې نـــه تنګېـــږي
دې ويـــل ګـــوره مـــا تړلـــی پـــه زلفـــان

زما ګران افغانستانه

د ميـــــــرويس نيکـــــــه لـــــــوی کـــــــوره
د احمـــــــد پـــــــه لاســـــــو جـــــــوړه
لـــــــوی ملـــــــت يـــــــې د افغانـــــــه
زمـــــــا ګـــــــران افغانســـــــتانه

خـــــدای نـــــه غـــــواړم چـــــې ودان شـــــې
چـــــې ســـــر لـــــوړی تـــــر آســـــمان شـــــې
ســـــتا قومونـــــه ســـــره يـــــو شـــــي
چـــــې يـــــو مـــــوتی او يـــــو ځـــــان شـــــې
دا زمـــــــــــا د ژونـــــــــــد ارزو ده

دا مـــــــی ســـــــوال دی لـــــــه الله نـــــــه
زمـــــــا ګـــــــران افغانســـــــتانه

چـــــې د ســـــولې فضـــــاء راشـــــي
زريـــــن لمـــــر رڼـــــا، رڼـــــا شـــــي
هـــــر وګـــــړی وي خوشـــــحاله
خوشـــــحالي پـــــه هـــــره خـــــوا شـــــي
د جګـــــــړو خبـــــــرې نـــــــه وي

هرځـــــوک شـــــين وي لـــــه خنـــــدا نـــــه
زمـــــا ګـــــران افغانســـــتانه

چې دي لوړ نام او نشان شي
ښکلی ژوند د هر افغان شي
درد او غم نه په امان شي
نورمعلوم يې ښکلی شان شي
دغه ده مې د زړه هيله

چې ژوند تېر شي په اسانه
زما گران افغانستانه

نفرتونه رانه ورک شي
محبت نه مو کور ډک شي
ورور د ورور سره پخلا شي
هر غليم حيران هک پک شي
رانه ورک شي دا غمونه

د ظالم خونه شي ورانه
زما گران افغانستانه

چې راټول په يو آذان شي
بيا له سره يو افغان شي
د وروريَ لاسونه ورکړي
يو له بل نه قربان شي
يو مو مشر يو سالار وي

يـــــــو زعـــــــيم مـــــــو مهربانـــــــه
زمـــــــا ګـــــــران افغانســـــــتانه

زه مطيـــــــع بـــــــه شـــــــم خوشـــــــحاله
چـــــــې ولـــــــس مـــــــې شـــــــي ســـــــوکاله
دا ســـــــپيرې دښـــــــتې بوســـــــتان شـــــــي
نـــــــور يـــــــې خـــــــلاص شـــــــو لـــــــه وبالـــــــه
هـــــــر بچـــــــی د علـــــــم پـــــــوهې

پـــــــه رڼـــــــا بانـــــــدې روښـــــــانه
زمـــــــا ګـــــــران افغانســـــــتانه

هـــره مينـــه لـــري ډبـــر خونـــد او ســـرور
كـــه هـــر څـــومره مـــاتوي يـــاغي غـــرور

د وصـــــال شـــــپې دي څـــــومره بختـــــورې
خـــو يـــو بـــل تـــه پکـــې شـــته ګيلـــې ضـــرور

كـــه هـــر چـــا د مينـــې نـــوم پـــه جـــار اخيســـتى
نـــــو ختلـــــى دى پـــــه دار لكـــــه منصـــــور

معشـــــــوقې د عاشـــــــقانو تـــــــن او روح دي
هـــــر عاشـــــق يـــــې د نـــــازونو دى مـــــزدور

چـــې يـــو ځلـــې يـــې اختيـــار كـــړه د عشـــق لاره
تســـــليمپرې بـــــه كـــــه څـــــومره وي مغـــــرور

كـــه پـــه ســـل رنګـــه غمونـــو كـــې راګيـــر وي
څـــوک بـــه ونـــه وينـــې مـــا غونـــدې مجبـــور

چـــې داســـتا مـــزه هـــم وځكـــې پـــه خپلـــه
عشـــــقه وكـــــړه رؤفـــــي بانـــــدې مـــــرور

يـو جـام د بنګـو راکـړه سـاقي ځـان چـې پـرې نشـه کـړم
توبــه لا پخــه نــه ده چــې پــرې ماتــه مــې توبــه کــړم

لـږ ځـان تـه مـې نـژدې کـړه او خـوارې د وصـال راکـړه
خمار مې کړه پـه سـترګو چـې مـې ځـان درتـه لمبـه کـړم

جــل وهلــی یــم راغلــی نــن پــه ټکنــده غرمــه کــې
سرې شونډې درنـه غـوارم چـې زه ماتـه پـرې روژه کـړم

د صــبر کاســه ډکــه ده او زغــم لــه حــد اوښــتی
راوځــې او کنــه کــه پــه ټــول کلــي کــې نــاره کــړم

د شــرم او پــردې خبــرې پرېــږده نــور دنیــا تــه
تــه راشــه زمــا خواتــه زه بــه جــوړه یــو پلمــه کــړم

تــر څــو پــورې بــه تښــتم رؤفــي لــه رواجونــو
بغـاوت تـه مـې زړه کېـږي خپلـه مینـه بـه ښـکاره کـړم

لا په شوندو مې دا ستا بوسه پرته ده
لا په ژبه مې هغه مزه پرته ده

لا د زړه بلبل مې هغسې په شور دی
لکه شپه چې د وصال اوږده پرته ده

په تيارو کې هم رڼا ته حاجت نشته
په هر لار دې د ښايست جلوه پرته ده

د هجران له درد او سوزه خبر نه دی
د ناصح په خوله خندا بسته پرته ده

ستا د زنې شينکی خال به څنګه ښکل کړي؟
روڼي مختاز فتنه پرته ده

يـــو خـــوا وطـــن بـــل خـــوا جانـــان دی
هـــر يـــو لـــه ځانـــه راتـــه ګـــران دی

تـــــــوپير د دواړو راتـــــــه نشـــــــته
دا يـــو مـــې روح بـــل مـــې ايمـــان دی

پـــــــه زړه مـــــــې دواړه راوريـــــــږي
زړه مـــې پـــردیس کـــې پـــه خفګـــان دی

د زړه ګـــــــلاب تـــــــازه پـــــــه دواړو
تـــل مـــې د زړه بـــن پـــرې روښـــان دی

بـــې لـــه وطنـــه ژونـــدی نـــه يـــم
دا ټـــول وجـــود مـــې پـــرې ودان دی

د مطيـــــع ســـــترګو کـــــې غړيـــــږي
هـــر يـــو بچـــی چـــې د افغـــان دی

د هجـــران څـــه تـــوره شـــپه ده غلـــی ناســـت يـــم
د رڼـــا تتـــه ډيـــوه ده غلـــی ناســـت يـــم

د جانـــان يـــاد مـــي پـــه خيـــال اوړي راوړي
دا کيســـه ډيـــره اوږده ده غلـــی ناســـت يـــم
د پښـــتون پـــر حـــال څيړنـــه لـــر او بـــر کـــي
خپلـــه ځمکـــه ورتـــه ســـره ده غلـــی ناســـت يـــم
پښـــتونخوا شـــوه د پنجـــاب پـــه قيـــد کـــي بنـــده
د نفـــاق دا نتيجـــه ده غلـــی ناســـت يـــم
د پښـــتون تـــاريخ يـــو څـــه ناڅـــه چـــي لـــولم
لـــه غـــم ډکـــه يـــي کيســـه ده غلـــی ناســـت يـــم
زه چـــي خپـــل د پښـــتنو ســـوچ ارزومـــه
هـــره هيلـــه مـــي اوس مـــړه ده غلـــی ناســـت يـــم
د اوږده مـــزل نـــه وروســـته ســـهار نشـــو
لا تروړمـــی ســـخته شـــپه ده غلـــی ناســـت يـــم
د خپـــل قـــام نـــه لاس پـــه ســـر نـــه شـــوم هيڅکلـــه
لا پـــه دار مـــي حوصـــله ده غلـــی ناســـت يـــم
چـــي خبـــره د وطـــن شـــي زه حاضـــر يـــم
دا د عشـــق بلـــه لمبـــه ده غلـــی ناســـت يـــم

پښـــتنو لـــه رهبرانـــو غـــم ليـــدلی
مطيـــع تـــل دغـــه دوکـــه ده غلـــی ناســـت يـــم

رنګين خوب

مـــــــا ليـــــــدلی رنکـــــــين خـــــــوب دی
چـــــــی مالیـــــــار دی او باغونـــــــه

تـــــــولې دښـــــــتې دي زرغـــــــوني
ســـــــپيني واوري او رغونـــــــه

د ســـــــپرلي ځپـــــــې راغلـــــــي
خـــــــزان نشـــــــته نـــــــه بادونـــــــه

هـــــــوا مســـــــته او معطـــــــره
شـــــــا و خـــــــوا تـــــــه ســـــــره ګلونـــــــه

کارغـــــــان تللـــــــي لـــــــه دې ځايـــــــه
د د بلبلـــــــو اتڼونـــــــه

پـــــــه نڅـــــــا بانـــــــدې اختـــــــه دي
هـــــــم زلميـــــــان او ښـــــــکلي نجونـــــــه

ژمـــــــی پـــــــای تـــــــه رســـــــېدلی
ويلـــــــې شـــــــوي کنګلونـــــــه

د ســـــــهار وړمـــــــې چاپـــــــېري
ښـــــــکلوي د ګـــــــل مخونـــــــه

ســـــــپيني پرخـــــــې ملغرلـــــــي
زرغـــــــون شـــــــوي ګلابونـــــــه

مطيـــــــع زړه مـــــــې خوشـــــــالۍ نـــــــه
پـــــــټ ســـــــينه کـــــــې کـــــــړي ټوپونـــــــه

يـــو زه نـــه يـــم هـــر افغـــان پـــه تـــا ژړېـــږي
ځمکـــه څـــه چـــې لا آســـمان بـــه تـــا ژړېـــږي

د وحشـــي ظـــالم پـــه لاســـو باانـــدې ښـــکار شـــوې
خپـــل تنـــې، تنـــې ګړېـــوان پـــه تـــا ژړېـــږي

د وحشـــت لمبـــو کـــې وســـوې لولپـــه شـــوې
ســـتا د غيـــږې هـــر انســـان پـــه تـــا ژړېـــږي

پـــه ســـپرلي دې د خـــزان څپـــې خـــورې دي
کـــانې بـــوټي او ګـــلان پـــه تـــا ژړېـــږي

تـــه ســـرليک د قربـــانيو شـــوې وطنـــه
هـــر مضـــمون او هـــر عنـــوان پـــه تـــا ژړېـــږي

ســـتا پـــه يـــاد کـــې بـــه د غـــم ډيـــوې وي بلـــې
پـــه اور ســـوي پتنګـــان پـــه تـــا ژړېـــږي

پـــه غـــزل کـــې يـــې د غـــم انـــدازه نشـــته
مطيـــع وايـــي يـــا قربـــان پـــه تـــا ژړېـــږي

يـــو ښـــکلی تصـــور د شـــنو بـــاغونو او د ګلـــو
پکـــې مســـتې تـــوتکی دي او نڅـــا ده د بلبلـــو

ډېـــر تـــږی د ديـــدن يـــم او خمـــار د تـــورو ســـترګو
داســـتا مســـتې اداګـــاني او لبـــان د ښـــکلولو

پـه خيـال کـې دې ډوب شـوی يـم او سـتا غيـږې تـه تللـی
خـــورې مينـــه او وصـــال دی اندېښـــنه نشـــته د تللـــو

يـــم ناســـت پـــه ميخانـــه کـــې بېغمـــي ده لـــه عالمـــه
تنهـــا زه يـــم يـــو ســـاقي دی ډک جامونـــه دي د ملـــو

تصور دی په خلوت کـي سره ناست پـه سور پالنګ يـو
زه پـــه ځيـــر، ځيـــر درتـــه ګـــورم نـــه مړېـــږم پـــه کتلـــو

په هوش کی چی لږ راغلمه نو پوی شوم چـې يـو خيـال ؤ
لـــه ځانـــه وم وتلـــی خـــو زړګـــي مـــې نـــه منلـــو

پـــه خيـــال او تصـــور کـــې د مطيـــع مينـــه شـــوه ورانـــه
بـــس پـــوره يـــې ارمـــان نـــه شـــو ځـــوانيمرګ ورژېـــدلو

يـــو غـــم نـــه وي چـــې دا بـــل وربانـــدې بـــار شـــي
هـــــر حالـــــت د زمـــــاني ورتـــــه انكـــــار شـــــي

د افغـــــان غريـــــب قســـــمت تـــــه حيرانېـــــږم
چـــې بـــه كلـــه د غمونـــو نـــه وزګـــار شـــي

دا دنيـــــا ورتـــــه ســـــكروټه ګرځېـــــدلې
نـــه پـــه لـــر او نـــه پـــه بـــر كـــې يـــې قـــرار شـــي

كـــه پخـــوا بـــه چنګېزخـــان، مغـــول او نـــور ؤ
اوس د ورور لـــه لاســـه هـــم داســـې ازار شـــي

هـــره چـــاره يـــې ختميـــږي پـــه غمونـــو
شـــروع نـــه وي سمدلاســـه خـــوار او زار شـــي

لېونتـــوب بـــه څنګـــه زور پـــه مطيـــع نـــه كـــا
د غلـــيم لـــه لاســـه تـــل يـــې بـــد روزګـــار شـــي

يـــو متـــل دی نـــه ورکيـــږي هـــېڅ يـــو قـــام
کـــه يـــې وژنـــي هـــر ســـهار او هـــر مابنـــام

فـــولادي تـــوره يـــې ماتـــه کـــړه پـــه څـــټ کـــې
پـــام چـــې ونـــه کـــړي ګـــذار وربانـــدي خـــام

د بـــــاتورو افغانـــــانو ځـــــور پرېـــــږده
د مرغـــــې پـــــه شـــــان بـــــه ونښـــــلې پـــــه دام

د ښـــکاريانو ســـره لـــوبې د جنـــګ مـــه کـــړه
دا ملـــت مـــات شـــوی نـــه دی پـــه يـــو ګـــام

د غـــرور پـــه نيـــت راغلـــی يـــې ښـــاماره
رانـــه روغ بـــه ژونـــدی نـــه ځـــې يـــې بـــدنام

هـــر افغـــان نـــه دې بـــې خـــاره اختيـــار تېـــر دی
غـــره نـــه شـــې يـــوه ورځ بـــه شـــې ناکـــام

يـــې راغلـــی چـــې زمـــا خـــاوره قبضـــه کـــړي
ځـــان خبـــر کـــه تـــه پـــه هـــوډ زمـــا د قـــام

پـــه توپونـــو او ټـــانګونو مـــه غرمبېـــږه
يـــوه ورځ بـــه ځـــې ټپـــي، انـــدام، انـــدام

د ســـر خيـــال د رؤفـــي د ولـــس پرېـــږده
غـــم دې خپـــل خـــوره پـــه خپـــل ځـــان دې کـــوه پـــام

د تنـــدي كربنـــو تـــه ګـــورم د هـــر خپـــل تـــه
نـــابللى بـــه ترځـــو ورځـــم محـــل تـــه

پـــه ژونـــدون لـــه ســـر ټيټـــى نـــه مرګـــى ښـــه دى
پـــه غيـــرت دې غـــږه خلاصـــه کـــړه اجـــل تـــه

يـــو متـــل دى غيرتـــي يـــو کـــال مجبـــور وي
بېغيرتـــه خـــو ټـــول عمـــر مجبـــور بـــل تـــه

کـــه وروري پـــه صـــداقت کـــړو نـــو رســـېږو
پـــه کـــږو او ورکـــو لارو کـــې منـــزل تـــه

دا ولـــس بـــه د شـــيطان لـــه قيـــده خـــلاص شـــي
د هـــوس لارې چـــې وتـــړي ګوګـــل تـــه

ګاونـــډيان راتـــه پـــه نيـــت کـــې صـــفا نـــه دي
غـــواړي کـــوز مـــو کـــړي د ســـرو لمبـــو و تـــل تـــه

کـــه د امـــن زيـــرى چـــا را بانـــدې وکـــړ
بيـــا بـــه راوړم ســـره ګـــلان د يـــار وربـــل تـــه

مطيـــع مخکـــې ورپســـې شـــئ اى يـــارانو
پـــه قـــدم يـــې قـــدم ږدئ ګـــورئ يـــې پـــل تـــه

زمـــــا جاهـــــل زمـــــا نادانـــــه قامـــــه
زمـــــا د لـــــوی ټبـــــر افغانـــــه قامـــــه

نـــور خـــو ســـوچ وکـــړه لـــه ګرنګـــه لـــويږي
نـــه يـــې خبـــر تـــه لـــه خپـــل خانـــه قامـــه

خلـــک ســـپورمۍ کـــې ځانتـــه کـــور جـــوړوي
لـــږ شـــه راســـتون پـــر شـــا روانـــه قامـــه

د حـــق غوښـــتو ژبـــه دې هـــر وخـــت ګونګـــه
خولـــه دې کـــړه خلاصـــه بـــې زبانـــه قامـــه

د دنيـــا خلـــک پـــه مـــريخ کـــې ګرځـــي
تـــه يـــې پـــر ځمکـــه ســـرګردانه قامـــه

ګټـــه دي، دغـــه ده چـــې ځـــان خبـــر کـــړي
ځـــان کـــه خبـــر نـــور لـــه جهانـــه قامـــه

پـــه کومـــه ژبـــه درتـــه وغږيـــږم
مطيـــع يـــم ســـترۍ نـــور لـــه تانـــه قامـــه

يـــو وار راوګـــوره نظـــر مـــې پـــه نظـــر کېـــږده
دا تـــور بانـــه دې زمـــا زړه بانـــدې خنجـــر کېـــږده

زړه دی پـــه ســـترګو رانـــه وړی تـــش ګوګـــل پـــاتې دی
عمـــر تېرېـــږي راشـــه ســـر مـــې پـــه تټـــر کېـــږده

حســـن دې څـــاڅې لـــه رخســـاره ورتـــه ګـــورم آشـــنا
کتـــو، کتـــو کـــې ســـوی داغ مـــې پـــه ځیګـــر کېـــږده

ســـترګې پیـــالې کـــړه د شـــرابو د نشـــو تـــږی یـــم
خمـــار د عمـــر مـــې پـــوره کـــړه دا اثـــر کېـــږده

د دعـــا لپـــې مـــې ســـتا در تـــه پـــه زاریَ نیـــولې
زمـــا ولـــس بانـــدې تـــودې وړانګـــې د لمـــر کېـــږده

د ګـل وطـن پـه هـر بچـي چـې رحـم نـه کـوي څـوک
پـــه غلیمـــانو یـــې لمبـــې د خپـــل محشـــر کېـــږده

ستا خـو وجـود دی مطیـع هـر پښـتون پـه لـر او بـر کـې
اوس پښـــتونخوا د زړه لپاســـه پـــاس پـــه ســـر کېـــږده

مابنـــــامی دی موســـــيقي غـــــزل او بـــــزم
د چـــا شـــعر د چـــا غـــزل او د چـــا نظـــم

زمـــــا زړه کـــــې پخـــــواني يادونـــــه اوړي
رايـــــادیږي مېړنـــــی نيکـــــه د رزم

اتفـــــاق او اتحـــــاد پکـــــې موجـــــود وو
د وطـــن خـــدمت تـــه کلـــک ولاړ پـــه عـــزم

خـــو دا اوس پـــه مـــونږه څـــه بـــلا پريـــوتې
نـــه د ځـــان پوښـــتنه کـــړو او نـــه د جـــزم

کـــه دښـــمن مـــې غورځـــوي، خـــو پورتـــه کېـــږم
د مېړانـــــې او د ننـــــګ پـــــر لاره خـــــوزم

ســـتا پـــه مينـــه کـــې پتنـــګ مطيـــع دا وايـــي
تـــه بلېـــږه لکـــه شـــمعه زه بـــه ســـوزم

هـر سـهار وينـو کـې پـروت دی مابنـام پـروت دی
سـرو اورونـو کـې ناحقـه مـې قـام پـروت دی

نـه پـوهيږم پـه کـوم تـور بانـدې تـورن دی
چـې د نـورو اسـارت کـې مـدام پـروت دی

د آسـمان لخـوا نـه هـم پـرې رحـم نشـته
د پـانې لانـدې لا هماغسـې خـام پـروت دی

د ژونـدون لاره تـرې تولـه اوس خطـا ده
د سـامراج لـه لاسـه هسـې نـاارام پـروت دی

لـه ادمـه تـر دې دمـه نـاکرار دی
لـه اغـاز نـه نـاکرار يـې انجـام پـروت دی

د آسـمان فرښـتو وژړل پـرې خپلـه
چـې پـه وينـو کـې لـت پـت يـې انـدام پـروت دی

د پښـتون د حـق دعـا کـې مطيـع ژاړي
درتـه ربـه پـه سـجدو او قيـام پـروت دی

يـــوه ورځ بـــه تـــرې نـــه ځـــو راځـــي مـــو وار
تـــول بـــه درومـــي ځـــوک مابنـــام او ځـــوک ســـهار

دا دنيـــــا لکـــــه د بـــــاد پـــــه تېرېـــــدو ده
ژونـــد اوبـــو غونـــدې بهېـــږي پـــه تلـــوار

لکـــه لمـــر د مـــازديګر د ســـترګو رپ کـــې
پـــه خـــزان پســـې راځـــي مـــدام بهـــار

يـــو ټوټـــه کفـــن هـــر يـــو ځـــان ســـره وړی شـــي
ځـــوک غريـــب دی کـــه ملنـــګ او کـــه مالـــدار

پـــه مجـــاز کـــې د هـــوس لېـــوني نشـــئ
بنـــه او بـــد درځينـــې خـــوري لکـــه بنـــامار

د دنيـــــا چـــــارې همـــــه واړه فـــــاني دي
پـــه دې وجـــه پـــرې غـــرور نـــه کـــړي خـــودار

رؤفـــي د ايمـــان خيـــر دې پکـــې غـــواړه
خـــدای دې مـــه کـــړه پـــه هـــيڅ ځـــای کـــې خـــوارو زار

یـو وجـود دی یـوه سـاه ده کـه دا لـر دی او کـه بـر دی
یـو افغـان دی یـو پښـتون دی کـه کابـل کـه پېښـور دی

یـوه خـاوره یـو تـاریخ یـو افتخـار یـو مـو کلتـور دی
ټـول د یـو بابـا بچـي یـو، یـو تـوکم یـو مـو ټبـر دی

لـه کنـدهاره تـر اټکـه ټـول د یـوې ادې زامـن یـو
یو مو کام یو مـو خصلت یـو مـو قـانون یـو مـو حشـر دی

یـوه مینـه یـوه وینـه هـېڅ تـوپیر پـه مـونږ کـې نشـته
پېښـورمې تـن وجـود دی خـو کابـل مـې ځـان ځیګـر دی

کـه کابـل مـې د سـر ټیـک دی پېښـور زمـا پېـزوان دی
د افغـان د هسـک شـمله دی ځکـه زړه پـرې معطـر دی

کـه کابـل زمـا جانـان دی پېښـور مـې محبوبـا ده
لـر او بـر راپکـې نشـته دا هـر یـو مـې د زړه سـر دی

هـر زلمـی مـې ایـوب خـان دی هـره پېغلـه مـې ملالـه
د بابـا نـه میـراث پـاتې افغانیـت زمـا رهبـر دی

هـر غلـیم پـه وړانـدې تـل مـو پـه شـریکه بغـاوت دی
یـو لښـکر یـو مـو دښـمن دی یـو د ټولـو ګـډ سـنګر دی

زېړېـدلی پـه کنـړ کـې پېښـور رابانـدې ګـران دی
پښـتونخوا مـې ده ټـاټوبی رؤفـي تـه منـور دی

په ناز چې قدمونه ږدي بې شماره ورته ګورو
په زړه رالړه داغونه ږدي بې شماره ورته ګورو

د زړه وينې مو ورکړې او لا بيا هم قايل نه دی
جانان هر وخت تورونه ږدي بې شماره ورته ګورو

جفا يې دومره ډېره، اندازه يې نه لګېږي
پر مونږ چې الزامونه ږدي بې شماره ورته ګورو

پنجاب دی ظالم شوی د پښتون په مړۍ غلی
هر کور کې يې بمونه ږدي بې شماره ورته ګورو

پښتون قام ته دا يو دود پاتی شوی ورور تربور دی
په سر يې انعامونه ږدي بې شماره ورته ګورو

پنجاب د سپين سترګی کچه چې ګورم و پښتون ته
تر مڼځ يې دېوالونه ږدي بې شماره ورته ګورو

د قام د اتلانو په ژوندیني قدر نشته
په مړي يې ګلونه ږدي بې شماره ورته ګورو

سياست کې يې بايللي خو په جنګ او په مېرانه
پښتانه پرې خپل سرونه ږدي بې شماره ورته ګورو

ستم د جانان دا دی چې يې ځنګ ته کله ورشي
مطيع ته خو شرطونه ږدي بې شماره ورته ګورو

چې را ودې کتل يو دم يو څه چل شو
يو ناڅاپه مې په زړه باندې اور بل شو

فلسفه دې د ښايست شوه نړۍ واله
تغزل يې هر يو توری د غزل شو

افغان به څنګه وچې شوندې نه وي
هر قاتل او جنګسالار مارشال اتل شو

د ټولنې د نظام کيسه خرابه
د مادي ژوند په پار هر چارواکی غل شو

صرف دوکه ده تجارت دی جاسوسي ده
هر صادق سړی د ژرندې په پل دل شو

دا پښتون به خود بې واکه د خپل ملک وي
چې ګلخان د پنجابي جاسوس او مل شو

د سپين ملوک په شان ستا په لټون کې
مطيع ستړی شو په دواړو پښو شل شو

وګـــوره يـــو ځلـــې خبـــردار بـــه شـــې
ځيـــر کـــه شـــې لـــه زړه نـــه ســـم انګـــار بـــه شـــې

دلتـــــه د خطيـــــب ســـــره فتـــــوا پـــــه لاس
نـــوم د مينـــې وانـــه خلـــې سنګســـار بـــه شـــې

خيـــال د ښـــکلو، ښـــکلو لـــه زړه وباســـه
مـــه زانګـــه پـــه زلفـــو کـــې پـــه دار بـــه شـــې

تـــا کـــه اتفـــاق وکـــړ پښـــتون قامـــه
بيـــا بـــه خپـــل اختيـــار وي او واکـــدار بـــه شـــې

نشـــته ميکـــدې او پـــه جـــامونو کـــې
ښـــکل کـــړه د يـــار شـــوندې ښـــه خمـــار بـــه شـــې

شـــونډو کـــې د ښـــکلو د ښـــګ ټـــول خـــواږه
وڅکـــه رنـــدانو کـــې بيـــا شـــمار بـــه شـــې

خـــوب کـــې چـــې مطيـــع وينـــې زلفـــان مـــاران
دغـــه يـــې تعبيـــر دی ګرفتـــار بـــه شـــې

د هيڅ فکر سبا له پاره نشته
ځانځاني ده د بل چا له پاره نشته

هر سړی فقط د ځان فکر کې ډوب دی
خير بنيګڼه د دنيا له پاره نشته

له پرونه يې هم هيڅ کوم شی زده نه کړ
بل يې فکر د بقا له پاره نشته

د مادياتو فکر هر سړی اخيستی
رب يې هير دی څه عقبا له پاره نشته

د ټوپک ميل يې د ورور په تندي ايښی
څه حاجت يې د سلا له پاره نشته

په محفل کې يې مطيع ته پرون وويل
منتظر نه شې وخت تا له پاره نشته

افتونـــــو کـــــې ســـــيلاب کـــــه زلزلـــــه وي
يـــــا امـــــراض وي يـــــا کـــــه بلـــــه مســـــله وي

د بـــــې ننګـــــو خلکـــــو غـــــوا پکـــــې لنګيـــــږي
خپلـــــې ګټـــــې پکـــــې پـــــالې دا يـــــې فايـــــده وي

د ريـــــا پټکـــــی پـــــه ســـــر کـــــړي تســـــبيح لاس کـــــې
بـــــاطن غـــــل ښـــــکاره ذاهـــــد دا يـــــې پېښـــــه وي

لـــــه خيريـــــه مرســـــتو اتيـــــا ســـــلنه يـــــې ځانتـــــه
شـــــل ســـــلنه يـــــې وخـــــت ځپلـــــو تـــــه تاديـــــه وي

د مفســـــــــدو افتونـــــــــو کـــــــــې فايـــــــــده ده
دروغ فريـــــب چـــــل او دوکـــــه د دوی خاصـــــه وي

پـــــه ظـــــاهره تـــــه بـــــه وايـــــې چـــــې ولـــــي دی
پـــټ شـــيطان پـــه هـــره چـــاره کـــې يـــې دوکـــه وي

ځينـــــې، ځينـــــې يـــــې لا ويـــــنم شـــــاوخوا کـــــې
د پيســـــو پـــــه ټولولـــــو چـــــې اختـــــه وي

د خيريـــــه چـــــارو يـــــې ځانتـــــه نـــــوم ورکـــــړی
لکـــــه غـــــل يـــــې پـــــه تنـــــدي ماتـــــه خولـــــه وي

د حيـــــا پـــــه نـــــوم دوی هـــــېڅ نـــــه لـــــري ګـــــوره
دا خـــــس دوزه بـــــه هـــــر وخـــــت پـــــر ځـــــان خفـــــه وي

د بـــــې وزلـــــو حـــــق تـــــه غلـــــه دي ســـــپين لبـــــاس کـــــې
خوشـــــالېږي هـــــر يـــــو غـــــم تـــــه يـــــې تلوســـــه وي

دا ذليلـــه دا ســـر ټيټـــي نـــور رســـوا کـــړئ
نـــو تـــر څـــو بـــه پـــه دا رنـــګ د دوی څهـــره وي

پـــه فيســـبوک يـــي اعلانونـــه وي د مرســـتو
چـــې جيـــب ډک کـــړي ټـــول هـــدف د دوی پيســـه وي

حقيقـــت کـــي خيريـــه کـــار، کـــار د ټولنـــو
چـــې پـــه خپـــل ســـر يـــي کـــوي نـــو شـــرمنده وي

پاکـــه ربـــه د ولـــس مـــو شـــې ملګـــری
دا دعـــا ده همېشـــه چـــې اســـوده وي

مفســـدينو نـــه مطيـــع تـــل لـــرې ګرځـــه
دا منـــه چـــې ســـتا همـــدې کـــې بـــه پـــرده وي

زمـا بـاور زمـا يقـين راکـړه خمـار مـي کـړه پـرې
ساقي يو څـو جامـه رنګين راکړه خمـار مـي کړه پرې

زمـا خالقـه مـا لـه خپـل رحـم محـروم چـې نـه کـړې
دې غمجمن زړه ته مې تسکين راکړه خمار مې کړه پرې

د هـر موسـم پـه ښـکلاګانو مـې زړګـې بـايللی
د ژوند منظر راته واورين راکړه خمـار مـې کـړه پـرې

حسـن پرسـت يـم د ښايسـت رنګونـه پېژنمـه
ربـه نـو يـار راتـه حسين راکړه خمـار مـې کـړه پـرې

زمـا خلـوص د محبـت چـې درنـه هېـر نشـي نـور
د وفـا قـول راتـه سـپين راکـړه خمـار مـې کـړه پـرې

اور د بېلتـون بـه مـې ترڅـو خـام اندامونـه سـوزي
يوسـف يـم ماتـه بنيمـين راکـړه خمـار مـې کـړه پـرې

د زارې لپـې رؤفـي داسـتا پـه لـور نيـولي
مينـه د خپـل يـار نـازنين راکـړه خمـار مـې کـړه پـرې

ای پښتونخوا د پښتنو وطنه
ته خو تل وې د شاه زلمو وطنه

افسوس نن تا کې ګلخان پیدا شول
پنجاب ته یې ورکړې په پیسو وطنه

ستا د تنکو ژڼو مرګ نشم لیدی
ای د بې لاسو بې پښو وطنه

داسې ناره کړه چې پښتون راویښ شي
ای د خوشال د پرګنو وطنه

د پنجاب ظلم نور له حده تېر دی
د احمدشاه بابا بچو وطنه

نور د پردیو له یرغله خلاص شې
په خپلو جوړ شې د جرګو وطنه

ستا د ښایست لمبې مې زړه کې بلې
ای د خیبر او تاترو وطنه

په تا مین یم درنه، نه صبرپرم
ای د مطیع د ارمانو وطنه

رب درکـــړی ګُـــل جمـــال دی در مـــين يـــم
پـــه لنـــډۍ زنـــه دې خـــال دی در مـــين يـــم

کاشـــکې لاس دې ماتـــه يـــو ځـــل لاس کـــې راکـــړې
دا ارمـــان مـــې پـــه هـــر حـــال دی در مـــين يـــم

د راتلـــــو وعـــــده دې راکـــــړه ناڅرګنـــــده
ســـتا ځـــواب دی او کـــه ســـوال دی در مـــين يـــم

ســـتا لـــه لاســـه مـــې د زړه وينـــې خـــوراک دي
کـــه هـــر څـــو مـــې دا بـــد حـــال دی در مـــين يـــم

کـــه هـــر څـــومره پـــه تيـــارو کـــې قـــدم اخلـــم
خـــو ســـتا لاســـو کـــې مشـــال دی در مـــين يـــم

د لمـــــدو خټـــــو خـــــو لـــــږ اوبـــــه دارو دي
عشـــق کـــه هـــر څـــومره جنجـــال دی در مـــين يـــم

شـــاعران د پښـــتو ډېـــر دي رب دې يـــې ډېـــر کـــړي
د مطيـــع شـــعر بـــې مثـــال دی در مـــين يـــم

ورځ راځـــي چـــې بـــه ښـــپرازه مـــې کابـــل شـــي
ټـــول قومونـــه بـــه د يـــو بـــل ســـره خپـــل شـــي

منتونـــــه ورتـــــه کـــــړم نـــــه پـــــاتې کېـــــږي
بـــاران وکـــړي ربـــه يـــار چـــې مـــې معطـــل شـــي

چـــې زمـــا پـــه کـــور اورو نـــه يـــې بـــل کـــړي
دا پنجـــاب دې هـــم ايـــره د اور خځـــل شـــي

يـــو ګـــړۍ ببلتـــون د يـــار زغملـــى نشـــم
رانـــه ځـــي چـــې نـــو پـــر زړه مـــې ســـم اور بـــل شـــي

پـــه زړښـــت کـــې د ځـــوانۍ دور بـــه راشـــي
کـــه دې شـــوندې دا زمـــا پـــه شـــوندو ښـــکل شـــي

زه چـــې ګـــورم د واکمنـــو دې کـــردار تـــه
خـــداى خبـــر کـــه د ارمـــان غـــوټۍ مـــو ګـــل شـــي

دا متـــل دى چـــې مرګـــى خـــو پـــه نېټـــه وي
بـــې نېټـــې بـــه ســـتا لـــه لاســـه مـــې اجـــل شـــي

کلـــى چـــم پـــه ســـپينو وړانګـــو شـــي روښـــانه
چـــې د مـــخ نـــه دې راپورتـــه تـــور اوربـــل شـــي

فلســـفې داســـتا د ســـترګو مـــې لوســـتلي
مطيـــع جـــوړ بـــه تـــرې اوس تـــوري د غـــزل شـــي

زما افغان بچيه

په پښو لوڅ په بدن لوڅ زما افغان بچيه
درنه قربان زما اتله قهرمان بچيه

ته زېړولی په دې خاوره چې افغاني مور يې
اوس د پاللو دې څوک نشته قدردان بچيه

په يتيمتوب دې ظالمان کومه پروا نه کوي
د شفقت لاس دې په سر نشته دی ګران بچيه

چې کرۍ ورځ يې لالهند يوې روپۍ له پاره
د هر چا در ته يې ولاړ سترۍ ستومان بچيه

ستا وچې شونډې، څيرې، څيرې جامې نشم ليدی
په غم دې اوښکې تويومه زما ځان بچيه

په تا مې نشي د انسان د ګل ګذار هم پېرزو
زما ګلاب زما نازک د ګل په شان بچيه

د بخت ډيوه دې خدای روښانه که په امن شې نور
شپه دې سهار د سباوون شه مهربان بچيه

په تا چې غم وي رؤفي ساه اخيستلی نشي
خدای دې آباد کړه زما درد لره درمان بچيه

درتـــه زه بـــه شـــم قايـــل پـــه هـــر يـــو حـــال کـــې
خـــو کـــه تـــه مـــې هـــم لـــږ وشـــماري مثقـــال کـــې

دومـــــره مـــــه ګـــــوره پـــــه کمـــــه ســـــترګه ماتـــــه
زه حرمـــت لـــرم مـــا مـــه شـــمېره ټيټـــال کـــې

مـــال دولـــت د ســـړيتوب هـــيڅ معيـــار نـــه دی
تـــاريخ نـــه دی نـــوم راوړی د چـــا مـــال کـــې

دا زمـــا لـــه بېوســـۍ نـــه ګتـــه مـــه اخلـــه
کـــه هـــر څـــو دې زه نښـــتی يـــم پـــه جـــال کـــې

د دښـــمن د غـــرور مـــلا مـــې ماتـــه کـــړې
ځـــان خبـــر کـــړه چـــې مـــې څـــه شـــته دې کمـــال کـــې

د بېلتـــون شـــيبې کـــه ســـختې دي نـــو خيـــر دی
لـــه فـــراق وروســـته ډېـــر خونـــد دی پـــه وصـــال کـــې

هـــيڅ ښايســـت د نـــړۍ نـــه ورتـــه رســـيږي
کـــوم يـــو رنـــګ چـــی مـــا ليـــدلی ســـتا جمـــال کـــی

پښـــتونخوا کـــې چـــې پښـــتون ســـره يـــو نشـــي
نـــو يـــې نـــه ويـــنم نجـــات پـــه دې مهـــال کـــې

د شـــيطان ســـکنی ورور دی زه يـــې ګـــورم
رحـــم نشـــته پـــه ظـــالم پنجـــاب دجـــال کـــې

راشـــه راشـــه لـــږ د رنـــځ تپـــوس يـــې وکـــړه
قـــام دې وګـــوره نفـــاق او پـــه بـــد حـــال کـــې

خـــوب مـــې وليـــده د زلفـــو د مـــارانو
چـــې مطيـــع زانګـــي د تـــورو زلفـــو ټـــال کـــې

د زړه په سر پرهر، پرهر دې کړمه ښه دې وکړل
لـه ځانـه ورک او نـاخبر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

زمـا د مينـې دنيـا ورانـه شـوه چـې پـرې دې ښـودم
جـدا لـه ځانـه لـه خپـل در دې کړمـه ښـه دې وکـړل

تـا د توپـک پـه زور زمـا جنګـړه ورانـه کړلـه
سـم اواره او در بـدر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

د محبـت پـه يـوې ښـکلې او سـپېځلې ګنـاه
لکـه منصـور د دار پـه سـر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

ستا ولونو، ولونـو زلفـو داسـې لـه خپـل ځانـه ورک کړم
مسـته څپـه د سـمندر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

مينـه قيمـار دی عاشـقان پکـې لـه سـره تېـر دي
مـا دو وهلـی تېـر لـه سـر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

زړه مـې درکـړی پـه بـدل کـې درنـه زړه غوارمـه
دغـې سـودا کـې سـوداګر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

پـه غلچکـو سـترګو دې وکتـل لمبـه دې کړمـه
يـاره جـادو يـاره منتـر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

لکـه بـاران مـې وريـدې د زړه پـه للمـه بانـدې
مـا ويـل مطيـع چـې اوس دلبـر دې کړمـه ښـه دې وکـړل

چې وار ورپکې نه وي ساقي جام تش مزه نه کا
ديدن چې رانشي نو سلام تش مزه نه کا

نړۍ ده منافقه دومخۍ دی زور اخيستی
ريا څخه چې ډک وي احترام تش مزه نه کا

په هغه موقف څه چې تش په نوم باندې يادېږي
چې واک يې وي د بل سره مقام تش مزه نه کا

د يار د تورو زلفو خوشبويي سپرليه راوړه
که دا نه وي يوازې دې نوم نام تش مزه نه کا

رهبر او د ممبر سړی معلوم دی پښتنو کې
عمل چې پکې نه وي نو امام تش مزه نه کا

هغه ياري پر اور شه چې پر سپينه لمن داغ وي
وصال چې پکې نه وي نوم بدنام تش مزه نه کا

مطيع ته د سبا وړمو په غوږ کې ورو، ورو وويل
سړي شونډې د يار ښکل کړه نور الزام تش مزه نه کا

د پلـــو لانـــدې چـــې غلـــي يـــار کاتـــه کـــا
تـــور بانـــه يـــې نـــو رســـا، رســـا ويشـــته کـــا

د مـــخ وړانګـــو يـــې تـــورتم لـــه منځـــه يـــو
لکـــه ســـپين لمـــر چـــې پـــر غرونـــو راخاتـــه کـــا

پنجـــابي د پښـــتون ذهـــن غـــلام کـــړی
چـــی پـــر لمســـه يـــې د ســـکه ورور قتلېـــده کـــا

چـــی عاشـــق او معشـــوقې يـــو بـــل تـــه ګـــوري
لـــه حيـــا نـــه ســـترګې ښـــکته پرېواتـــه کـــا

د هجـــران شـــيبې بـــدلې شـــي پـــه وصـــل
درد او غـــم لـــرې پـــه غرونـــو اواره کـــا

مطيـــع وايـــي يـــا بـــه هـــو او يـــا بـــه نـــه وي
انتظـــار يـــم چـــې بـــه کومـــه فيصـــله کـــا

هـــم خـــو لـــه تـــا او هـــم لـــه مـــا ســـره دي
دغـــه دوه مخـــي لـــه هـــر چـــا ســـره دي

د عاشـــق ژونـــد وقـــف د بنـــکلو غټـــو کـــې
دې کـــې خـــو هـــم دوی لـــه جفـــا ســـره دي

کـــه د خوبـــانو پيشـــه ذات وي جفـــا
خـــو کلـــه، کلـــه هـــم وفـــا ســـره دي

کـــه يـــې درد شـــته دی خـــو وصـــال يـــې هـــم شـــته
کلـــه ناکلـــه هـــم دوا ســـره دي

پـــه طبيبـــانو نـــه جـــوړيږم خلکـــه
د رنـــځ درمـــل مـــې د اشـــنا ســـره دي

د دنيـــا چـــارې خـــو دوی کفـــر ګنـــي
دا خلـــک ځـــومره نـــاروا ســـره دي

توحيـــد دنيـــا او اخـــرت درې واړه
پکـــې اجرونـــه د الله ســـره دي

پـــرون زمـــا ســـره پـــه ځنـــګ کـــې ناســـت ول
نـــن چـــې يـــې ګورمـــه لـــه تـــا ســـره دي

دوی تـــه مهمـــه فقـــط خپلـــه ګټـــه
پـــروا يـــې نشـــته کـــه خطـــا ســـره دي

سبا يې لاس کې د شرابو پيالـه
کـه نـن تسبيح او لـه تقـوا سـره دي

د ځينـو خلکـو خولـه کـې دوه ژبـې دي
بـاطن شـيطان ظـاهر الله سـره دي

مسـلمانانو پـام غلـط پـرې نشـئ
حيلـه چلونـه د هـر چـا سـره دي

دوی د خپـل ځـان سـاتنه نشـي کـوی
تـولې خبـرې يـې هـوا سـره دي

يـو څـو جاهلـه د تـورتم سـرلاري
عداوتونـه يـې رڼـا سـره دي

لـه ځانځـانی څخـه څـه نـه جـوړيږي
ګټـه د هغـو چـې دنيـا سـره دي

دلتـه دوکـې دي او د دروغـو بـازار
هغـه ورکيـږي چـې رښـتيا سـره دي

مطيـع حکومـت پـر مـا خوبـانې کـوي
زبـر ځواکونـه ټـول بنـکلا سـره دي

خيـــر دی راشـــه نـــو تـــر څـــو بـــه انتظـــار يـــم
ســـتا ببلتـــون کـــې بـــاور وکـــړه خـــوار او زار يـــم

مـــــا خبـــــره ورتـــــه څـــــو ځلـــــې وه کـــــړې
پـــه دې چـــاره کـــې خفـــه لـــه خپـــل رييـــار يـــم

کـــوټنۍ زمـــونږه پـــام چـــې ورانـــې نـــه کـــړې
دا زمـــــوږ د ماشـــــومتوب هغـــــه يادګـــــار يـــــم

هـــــر قلنـــــګ د مـــــازديګر غـــــوارې پـــــه زوره
تنـــــګ راغلـــــی زه لـــــه لاســـــه د ښـــــامار يـــــم

د ديـــــدن لارې څارمـــــه کـــــه تـــــه راشـــــې
خـــړو خـــاورو کـــې جوخـــت ناســـت درتـــه پـــر لار يـــم

ســـتا فـــراق کـــې پـــه ســـلګو کړمـــه شـــپه تيـــره
ژړېـــــدلی لکـــــه شـــــمع تـــــر ســـــهار يـــــم

د بلبـــــل غونـــــدې مطيـــــع ای غونچـــــه لبـــــې
د اغـــزو مـــنځ کـــې پـــه تـــا پســـې چغـــار يـــم

سترګو دې غشي ورول کړمه پر ځان دې مين
زړه کې مې سم، سم ښخېدل کړمه پر ځان دې مين

ګودر ته تلې او مازيګر وو د همزولو منځ کې
کاته زما په لور دې کړل کړمه پر ځان دې مين

مخې ته تلې خو شاته، شاته دې په پټه، پټه
غلچکو سترګو دې کتل کړمه پر ځان دې مين

زړه مې درزا وکړه چې سترګې مې شوې ښخې پر تا
چې تا په سترګو کې خندل کړمه پر ځان دې مين

ادا او ناز دې زړه زما وړه په کرار، کراره
په ډېر هنر دې دا عمل کړمه پر ځان دې مين

کړم دې شکمن چې اشاره دې غلې، غلې وکړه
تا مې په زړه غشي منډل، کړمه پر ځان دې مين

تا چې په سترګو کې بلنه بيا د مينې راکړه
ما خو په مينه ومنل کړمه پر ځان دې مين

مخې ته تلل شاته کتل، دې ادا لولپه کړم
ماران مې زړه کې تاوېدل کړمه پر ځان دې مين

ته خو لا اوس لکه غوتې په غوږېدو يې ګلې
ستا ښکلا هر وختې غزل کړمه پر ځان دې مين

ستا خرامانه تګ زما په زړګي اور بل کړی
د ناز موسکا شوندو چيچل کړمه پر ځان دې مين

تا چې منګی له سره کوز کړ په ډېر ناز او ادا
پر ما اورونه بلېدل کړمه پر ځان دې مين

چې ناڅاپي په مخه راغلې زلزله تېره شوه
پښه نيولې دربدل کړمه پر ځان دې مين

نښه دې ورکړله ريبار ته، وو اظهار د مينې
أينه دستمال ستا رالېږل کړمه پر ځان دې مين

ګډه همزولو سره تلې، شوې تري ناڅاپه جلا
تري څو قدمه بېلېدل کړمه پر ځان دې مين

اول مې فکر درته نه وو بيا مې ورو، ورو زړه کې
زاړه يادونه توکېدل کړمه پر ځان دې مين

په مخه راغلې لار دې چپه کړه او مخ دې پټ کړ
زلفې پر مخ راخورول کړمه پر ځان دې مين

منګی دې کوز کړ پر اوږو بيا دې په ترخ کې ونيو
په ناز په لپو ډکول کړمه پر ځان دې مين

د پیغلتـــوب او د ځـــوانۍ جـــذبې دې مـــا ولیـــدې
زمـا پـر لـور سـترګک وهـل کړمـه پـر ځـان دې مـین

زلفې دې پورته کړې له مخ نه شوې پـه خیـال کـې ډوبـه
تیکـرۍ پـه غاښـو کـې نیـول کړمـه پـر ځـان دې مـین

پټـه پـه زړه کـې شـوې خوشـاله د مطیـع پـر لیـدو
خـو پـه ښـکاره مـخ پټـول کړمـه پـر ځـان دې مـین

تـا چـی تـور زلفـان ګلـي پـه سـپين مـخ راخـواره کـړل
غشـــي د بڼـــو دي ټـــول زمـــا پـــر لـــور ايلـــه کـــړل

تيـــر و بيـــر خـــو يـــو دم د نظـــر غشـــو دي وار وکـــړ
خښ دي بيـــا پـــر زړه رالـــه تيـــره، تيـــره بانـــه کـــړل

ويـــنم عاشـــقان چـــې ســـتا لـــه چمـــه اوړېـــدی نشـــي
هـــر څـــو هلکـــانو کـــه پـــه کـــانو هـــم ويشـــته کـــړل

زړه مـــی لـــه تـــا نـــه ځـــي کـــه قـــدم درځينـــي زه اخلـــم
تـــا چـــي د پلـــو لانـــدې دا رنـــګ غلـــي کاتـــه کـــړل

هـر څـو کـه وړه يـي خـو ښايسـت دي نړيـوال دی اوس
خلـک بـه حيـران کـړي کـه غـوټی دي غوړېـده کـړل

مرګ نه خو به بل څيز خلکه سخت نـه وي دنيـا کـي هم
ماتـه تـري ببلتـون سـخت دا مـې خپلـه تجربـه کـړل

دي کـې لا ناترسـو خلکـو سـتا ښـه هـيڅ ونـه ويلـې
نـورو کـه بـه بـد کـړل مطيـع تـا نـو بـه تـل ښـه کـړل

کتـــی نشـــمه نګـــار تـــه ســـوزوي مـــې ســـوزوي مـــې
بل يې سپين بشر رخسـار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د هجـران لمبـو سـېزلی خيـر دی کلکـه غـاړه راکـړه
زه راغلـی دې ديـدار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د خپل ځان په هوش کې نه يم ټول حواس مـې دي بـايللي
نـن راغلـی دې يـم ښـار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د بـې دمـه روح سـلګۍ دي بـې وسـۍ پـه انتظـار کـې
پـرې دې نښـودم ديـدار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

پـر دې قـام توپـان راغلـی بربـادۍ پـر لـور روان دی
مـورِ لوېـدلي يـو ازار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د سپرلي پـه غېږ کـې سم د ښايست ګل يـې غوړېـدلی
زه دې ګـورم قـد چينـار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د خوښۍ تابوت يې مـېخ کړ نـن سـبا مـو دا ژونـدون دی
ظلـم ګـوره د سـرکار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

د ظـالم آشـنا پـه اړه مطيـع نـور بـه ځـه، ځـه وايـم
زه پـه تمـه يـې اقـرار تـه سـوزوي مـې سـوزوي مـي

زه چې وګورم ګلونه نو دا ته مې زړه ته راشې
چېرته وي چې ښايستونه نو دا ته مې زړه ته راشې

ستا ښېلتون دی چې پر تېغ يې لکه نی سوری، سوری شوم
تنها ناست ترخه وختونه نو دا ته مې زړه ته راشې

دا خوبان ټول ستمګر په عاشقانو رحم نه کا
په بل ګورم چې ظلمونه نو دا ته مې زړه ته راشې

ماشومتوب کيسې مې يادې تل مې سترګو کې غړيږي
د بر کلي خړ کورونه نو دا ته مې زړه ته راشې

هڅه وکړم چې شې هېره خو زما په لاس کې نه وي
ستا ترخه خواږه يادونه نو دا ته مې زړه ته راشې

چې به چم ته کله راغلې نو فضا به شوه معطره
د ځوانۍ دي بهارونه نو دا ته مې زړه ته راشې

ټولې ژمنې او وعدې دي د اوبو د سر حباب وې
هغه دروغ، دروغ قسمونه نو دا ته مې زړه ته راشې

د وصال شپه وه، مطيع وو، ستا څنګل به وه، ديدن وو
د وطن غېږ کې خوبونه نو دا ته مې زړه ته راشې

مـا چـې کتـل پـه يـو نظـر يـې قتلېـدل بـه زړونـه
زه وم شـــاهد چـــې ظالمـــانو مـــاتول بـــه زړونـــه

دلتـه هـېڅ وخـت او هـم هيڅـا د چـا پـروا نـه کړلـه
چا په يو رنګ چا په بل رنګ خو ځورول بـه زړونـه

بـې واکـه تـل بـه وو بـې واکـه خـو واکمنـو خلکـو
پـه هـر مهـال او پـه هـر ځـای خـاورې کـول بـه زړونـه

دلتـه د پـاکې مينـې خلـک ښـکاري يـو هـم نشـته
بـازار يـې ګـرم و هـر چـا خـو خرڅـول بـه زړونـه

چـې پخـوانی وخـت راپـه يـاد شـي وم خاونـد د قـوت
خلکـو کـه هـر څـو ببلـول مـا خپلـول بـه زړونـه

د وخـت خطيـب سـره فتـوا د پـاکې مينـې خـلاف
د مينـې نـوم اخيسـتل ګـران وو دوی وژل بـه زړونـه

د خواخـوږۍ او خپلـولۍ احســاس بيخـي خـتم دی
رحـم لـه هـر چـا کـډه شـوی وو کنګـل بـه زړونـه

د دوستۍ نوم اوس خـالي نـوم دی نـور هـېڅ پـاتې نـه دي
يـاران هغـه ؤ خـو پـه رنـګ يـې رنګـول بـه زړونـه

چـــې مـــې ځـــواني وه، رؤفـــي وم د خوبـــانو نظـــر
پـه هـر محفـل کـې خـو پـه مـا پسـې راتلـل بـه زړونـه

دومـــــره تـــــا ســـــره همـــــدم دی زمـــــا زړه
بـــــې لـــــه تـــــا اختـــــه پـــــه غـــــم دی زمـــــا زړه

ښـــــاپیرۍ د قـــــاف د غرونـــــو راشـــــه، راشـــــه
پـــــه وصـــــال دې ســـــم مـــــرهم دی زمـــــا زړه

ګلابـــــي شـــــونډو دې زړه زمـــــا ریبلـــــی
سراســـــر چـــــې پـــــرې قلـــــم دی زمـــــا زړه

د وصـــــال مـــــرهم زمـــــا پـــــه زړګـــــي کېـــــږده
بـــــې لـــــه تانـــــه خـــــو بـــــې دم دی زمـــــا زړه

ســـــتا فـــــراق کـــــې هـــــره شـــــپه پـــــه چیغـــــو ژاړي
پـــــه ژړا لکـــــه شـــــبنم دی زمـــــا زړه

ســـــتا ښایســـــت لـــــه کـــــومې ورځ چـــــې مـــــا لیـــــدلی
ډک لـــــه اوښـــــکو او لـــــه نـــــم دی زمـــــا زړه

کـــــه پـــــه قـــــام بانـــــدې مـــــې ننـــــګ مطیـــــع ونـــــه کـــــړ
بـــــې ایمانـــــه او بیـــــا ګـــــرم دی زمـــــا زړه

ډېـــر نارامـــه بـــې لـــه تـــا دی زړه مـــې مـــري
ســـاه ختلـــی هـــر ببګـــا دی زړه مـــې مـــري

بـــې لـــه تانـــه مـــې تســـکين د زړګـــي نشـــته
درد او غـــم کـــې پـــه ژړا دی زړه مـــې مـــري

ســـتا لـــه نـــوم ســـره زمـــا نـــوم دی تړلـــی
چـــې تـــه نـــه يـــې نـــو تنهـــا دی زړه مـــې مـــري

د ګـــلاب او ســـتا تـــر منځـــه تـــوپير نشـــته
خـــو دا حســـن بـــې وفـــا دی زړه مـــې مـــري

برخـــې نـــه دي چـــا پـــه مينـــه کـــې ويشـــلي
تـــه چـــې وايـــې دا زمـــا دی زړه مـــې مـــري

چـــې مطيـــع تـــه د وفـــا وعـــده دې ورکـــړه
خوشـــحالۍ نـــه پـــه هـــوا دی زړه مـــې مـــري

زه پښـــتون او زه افغـــان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟
چـــې مـــې وژنـــي بـــې پرســـان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

د اســـلام تـــاريخ خـــو مـــوږ دی لـــوړ ســـاتلی
دې کـــې هـــم نامســـلمان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

د پنجـــاب ظلمونـــه نـــن پـــه پښـــتونخوا کـــې
لا پـــرې ژاړي پـــاس آســـمان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

د اســـلام پـــه نـــوم پنجـــاب د غـــرب غـــلام دی
بيـــا هـــم دی بنـــه مســـلمان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

پنجـــابي رياســـت وحشـــت صـــوات او بـــونير کـــې
چوپـــه خولـــه دی پـــرې جهـــان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

هغـــه بـــاغ چـــې بنـــه پـــه نـــاز وو مـــا ســـاتلی
پـــه نفـــاق شـــولو خـــزان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

د دوســـتۍ پـــه نـــوم يـــې کـــومې لـــوبې وکـــړې
ږنګـــوي افغانســـتان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

مينګـــوره، صـــوات، وزيـــر پـــه اور کـــې ســـوزي
تـــل پـــه لاس د پاکســـتان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

مطيـــع وايـــي ولـــې قـــام مـــې مـــري بـــې رحمـــه؟
اخيـــر زه يمـــه انســـان ګنـــاه مـــې څـــه ده؟

لکـــــه اوري پـــــه ګلونـــــو چـــــي شـــــبنم
داســـــي اوري مـــــي پـــــر زړه مـــــدام صـــــنم

راشـــــه يـــــو ځـــــل مـــــي د زړه پوښـــــتنه وکـــــړه
څنـــــګ تـــــه راشـــــه کـــــړه را پورتـــــه دي قـــــدم

څنګـــــه بـــــاور دربانـــــدي وکـــــړم بـــــي بـــــاوره
چـــــي پـــــه نـــــه خبـــــره خـــــوري راتـــــه قســـــم

لاس مـــــي کښـــــده پـــــه مـــــرئ او ســـــاه مـــــي واخلـــــه
خـــــو رقيـــــب تـــــه مـــــي محتـــــاج نـــــه کـــــړي بيـــــا هـــــم

هـــــېڅ بلبـــــل دي بـــــي چمنـــــه خـــــالق نـــــه کـــــړي
بـــــي وطنـــــه دي څـــــوک نـــــه شـــــي هـــــېڅ رقـــــم

معشـــــــــوقه د پښـــــــــتنو پښـــــــــتنه ژبـــــــــه
بـــــي رهبـــــره قـــــام دي وخـــــوري د ځـــــان غـــــم

پاکـــــه ربـــــه عفـــــه وکـــــړه ډېـــــر عـــــاجز يـــــم
کـــــه څـــــه شـــــوي د چـــــا حـــــق کـــــي زيـــــات او کـــــم

ظالمـــــانو نـــــه مـــــي زړه دغســـــي تـــــور دی
تـــــري زړه چـــــاودی يـــــم پـــــه شـــــانته د غـــــنم

داغ د مينـــې پـــر زړه ښـــه دی پاکـــه ربـــه
پـــر لمـــن لـــه داغـــه ســـاته بنيـــادم

د وطـــن پـــه مســـته مينـــه بانـــدې مســـت يـــم
قربـــانی تـــه يـــې حاضـــر يـــم هـــر يـــو دم

چـــې د قـــام اواز يـــې جـــګ کـــړ نـــو منظـــور دی
لـــه مهـــال ســـره يـــې کـــړی دا کـــار ســـم

مطيـــع لـــيکم چـــې نغمـــې د قـــام لـــه پـــاره
د کاغـــذ ســـره مـــې ژاړي هـــم قلـــم

هغه نه مري چې په ننګ کې د وطن مري
تل ژوندی وي پر وطن چې هر یو تن مري

پښتنو که اتحاد ونه کړئ پوی شئ
درله یو، یو به سبا وژني یو نن مري

لر او بر باندې مې داسې ناتار جوړ دی
مینډی بوري پر بچو باندې غمجن مري

ځینې، ځینې د وطن په جنګ مارہ شول
ځینې، ځینې یې د امن ارمانجن مري

د غیرت درکې کمی پښتونه نشته
متفق که شوې نو بیا به دې دښمن مري

د پنجاب خلاف که اوس رابیدار نه شوئ
خپله خاوره کې به هر سړی ویرجن مري

د وطن پر حال به خود مطیع خفه وي
ګلان مړاوي، باغوان ژاړي چې چمن مري

پـــټ کاتـــه دې د پلـــو لانـــدې هـــر ځلـــې
پـــه زړګـــي يـــې زمـــا ســـرې لمبـــي کـــړې بلـــې

چـــې اميـــد دې د ځـــوانۍ لـــه څـــانګې پـــرې شـــي
هـــر څـــه خـــاورې شـــي او خـــاورې ټـــولې هيلـــې

چـــې زړښـــت شـــي نـــو د زړه جذبـــه شـــي ورکـــه
عاشـــقۍ او ليونتـــوب کيســـې شـــي غلـــې

لاس پکـــار شـــه، وزګـــار مـــه کېنـــه لحظـــه هـــم
شـــاته نـــه راځـــي نـــور شـــپې او ورځـــي تللـــې

پـــه شـــپبو بـــاران وريـــږي خيـــر دی تـــم شـــه
لـــږ ســـاعت لپـــاره ولـــې نـــو راتللـــې

محبـــت درتـــه پـــه ښـــپو کـــي داســـي خـــم کـــړم
تـــه مـــې وژنـــې او زه څکمـــه وينـــې خپلـــې

څـــو چـــې لـــيکم درد مـــې هـــېڅ نـــه ارامېـــږي
پـــه ژړا کـــې د ســـلګو ســـاندې غزلـــې

پـــه مطيـــع دې شـــفقت هـــېڅ وخـــت ونـــه کـــړ
چـــې لـــه زړه دې غورځـــولی ولـــې، ولـــې

غمـــازان دي ســـتا تـــر در درتللـــی نـــه شـــم
هـــم دننـــه هـــم بهـــر درتللـــی نـــه شـــم

شـــيخي تاتـــه مبـــارک دې وي ذاهـــده
تـــر جوماتـــه برابـــر درتللـــی نـــه شـــم
مـــا خـــو پرېـــږده د ســـاقي پـــه ميخانـــه کـــې
تـــر مســـجد او تـــر منـــدر درتللـــی نـــه شـــم
تـــه بـــې ذوقـــه عاشـــقی نـــه خبـــر نـــه يـــې
شـــيخه شـــر يـــې ســـتا تـــر شـــر درتللـــی نـــه شـــم
د پنجـــاب د جلادانـــو لـــه ظلمتـــه
ګـــران کابلـــه پېښـــور درتللـــی نـــه شـــم
ورور لـــه وروره دی جـــلا دا ظلـــم ګـــوره
لـــر پـــه بـــر او بـــر پـــه لـــر درتللـــی نشـــم
لـــه فطرتـــه دا زمـــا نصـــيب خـــوار بولـــه
پښـــتون قـــام يـــم پـــه نظـــر درتللـــی نـــه شـــم
ســـتا پـــر ځـــای بـــه د ادکـــې طـــواف وکـــړم
غريبـــي ده کعبـــې بـــر درتللـــی نشـــم
لـــه امـــو تـــر اباســـينه يـــوه وينـــه
دښـــمن مـــات کـــړم مـــات وزر درتللـــی نـــه شـــم

خپـــل د مينـــی ثبـــوت ځنـــګ زه مطيـــع درکـــړم
دې نـــه پرتـــه پـــه زېـــر زور درتللـــی نـــه شـــم

وصـــال راغـــى رانـــه ورک هجـــران د اوښـــکو
ورو، ورو وچ مـې شـو نـور لونـد ګريـوان د اوښـکو

سـتا لـه لاسـه چـې مـې کلـه پيالـه نـوش کـړه
لکـــه څکلـــي مـــې وي ســـم خمـــان د اوښـــکو

ناصـــحان راتـــه هـــر څـــو کـــه نصـــيحت کـــړي
اثـــر نـــه کـــوي بيـــا هـــم درمـــان د اوښـــکو

د ناصـــح کتـــاب د عقـــل هـــېڅ نـــه لـــولم
کـــه هـــر څـــو پکـــې د حـــق بيـــان د اوښـــکو

د ذاهـــد اورشـــو تـــه نـــه ځـــم زړه مـــې تنـــګ دی
ميکـــدې کـــې کمـــوم داســـتان د اوښـــکو

د دې دور لـــــه شـــــيخانو مـــــې توبـــــه ده
چـې يـې ګـورم پـر مـا وي خفګـان د اوښـکو

اخـــــرت دې ذاهـــــدانو تـــــه تحفـــــه وي
زمـــا دلتـــه ســـاقي جـــام رنـــدان د اوښـــکو

مطيـع دومـره مـې پـه عشـق کـې زړه نـری شـو
ليـــدی نشـــم لونـــد ګرېـــوان جانـــان د اوښـــکو

مولانا خانزيب ته شاعرانه نذر

په خوله د ملتپالو نن نامه شولې خانزيبه
د قام د شهيدانو سره جنډه شولې خانزيبه

دښمن نه دې ډار نه وو نه پنجاب نه دې وه وېره
مېرانه او غيرت کې تاريخچه شولې خانزيبه

د وخت په کربلا کې تا د قام جګه جنډه کړه
بيداره د ياغي حسين نعاره شولې خانزيبه

د قام په ننګ ولاړ وې او د قام په ننګ شهيد شوې
لت پت په خپلو وينو جنازه شولې خانزيبه

ايوب غوندې راووتې پر ننګ د جنګ ډګر ته
په خولې د ملالۍ پيغلې تپه شولې خانزيبه

مطيع دې په غزل کې يادوي سر په سلګو دی
سردار د شهيدانو جانانه شولې خانزيبه

د زړې کـــدرې يـــې نـــه ويـــنم تـــو پيـــر
کـــه څـــوک کېـــږدي ســـتا لـــه ګـــل ســـره تصـــوير

د ګلـــبڼ ګلانـــو تـــا نـــه رنـــګ اخيســـتی
پـــه نـــړۍ کـــې دې ښايســـت دی بـــې نظيـــر

د دې ســـوي زړه پـــر حـــال بـــه زمـــا پـــوی شـــې
يـــو ځـــل وګـــوره پـــه ســـترګو راتـــه ځيـــر

د پښـــتون پـــه بـــدبختۍ کـــې ژونـــدون تېـــر شـــو
د داغلـــــو يـــــې تنـــــدی دی د تقـــــدير

مـــا غـــږ وکـــړ تـــه وې غلـــې څـــه دې نـــه ويـــل
خـــــو د ســـــترګو دې جـــــادو وه او تـــــاثير

اننګـــو دې پـــر مـــا اور د مينـــې بـــل کـــړ
او پانســـي کـــړم ســـتا د زنـــې خـــال وزيـــر

پـــه کتـــو دې زمـــا زړه لـــه ســـينې ووت
ليـــونی ګـــرځم خطـــا يـــم لـــه مســـير

مطيـع هـر څـومره کـه ښـه يـې شـعر کـې يـاد کـړم
خـــوښ بـــه نـــه کـــړي زمـــا تحريـــر او نـــه تقريـــر

بـــاده ورشـــه ګـــران کابـــل تـــه ســـلام يوســـه
ډک لـــه مينـــې مـــې ولـــس تـــه پيغـــام يوســـه

ورتـــــه وايـــــه پـــــه ازاده درتلـــــی نشـــــم
زمـــا خـــولې نـــه ورتـــه دغـــه کـــلام يوســـه

****

لـــــه وطنـــــه ارمـــــانونو ســـــره لاړم
تـــرې جـــلا شـــوم لـــه دردونـــو ســـره لاړم

د ژونـــدون موخـــه مـــې هســـې رانـــه ورکـــه
هـــر خـــوا غـــم دی د غمونـــو ســـره لاړم

د ظـــالم ســـره بنـــکيل شـــوی پـــه پنجـــو کـــې
ســـــرګردانه د ســـــوچونو ســـــره لاړم

د افغـــــان د اميـــــدونو ځلـــــی وران دی
ځکـــــه زه د فريـــــادونو ســـــره لاړم

مطيـــع زړه مـــې خـــود چـــاودولو پـــه ســـينه کـــې
مســـافر چـــې اولادونـــو ســـره لاړم

چې مې کله زړه کې یاد د یار مېلمه شي
ګرد چاپېره تري نه پورته سره لمبه شي

له دې پرته بل ارمان مې زړه کې نشته
چې افغان ولس به کله اسوده شي

****

له غمه ډکه مې کیسه ده خلکه مه مې پوښتئ
له زهرو هم ډېره ترخه ده خلکه مه مې پوښتئ

زړګی مې خوړین دی په پرهر مې مالګه مه دوړوئ
پرهر، پرهر مې دا سینه ده خلکه مه مې پوښتئ

یو وخت خاني وه د بابا په نوم به مست ګرځېدم
اوس مې د ژوند کیسه زړه ده خلکه مه مې پوښتئ

د یرغلګرو لوی ډګر زما غریبه خاوره
نور مې د ژوند بېړۍ چپه ده خلکه مه مې پوښتئ

خدای خبر دا د تیارو شپې به رڼا کېږي کله
لا خو د غم کیسه اوږده ده خلکه مه مې پوښتئ

چې یې قسمت کې د سپرلي ګلان سپېره، سپېره دي
د مطیع برخه عجیبه ده خلک مه مې پوښتئ

لکـــه کاغـــذ لکـــه تصـــوير بـــې حرارتـــه ســـړی
چـــې پکـــار نشـــي پکـــار نـــه دی بـــې صـــفته ســـړی

چـــې د ولـــس او خپلـــو خلکـــو پـــه در ونـــه لګـــي
لـــرې تـــرې اوســـه ورتـــه وايـــم بـــې همتـــه ســـړی

د خپـــل وطـــن د ســـر ســـودا چـــې کـــوي نـــورو ســـره
خـــود بـــه خرڅيـــږي بـــې ايمانـــه بـــې غيرتـــه ســـړی

غـــلام د ســـلو خلکـــو وي د ســـل روپـــو پـــه خـــاطر
يـــو وطـــن فروشـــه، بـــې پښـــتو او ډپـــر بـــې پتـــه ســـړی

يـــو ځـــل چـــې داغ شـــي د تـــاريخ پـــه ســـپينو پـــانو بانـــدې
پورتـــه کـــوی نشـــي بيـــا ســـر لـــه خجالتـــه ســـړی

د هلاکـــت کنـــدې تـــه وغـــورځي پـــه ژونـــد رؤفـــي
څـــوک چـــې منکـــر شـــي لـــه خپـــل اصـــل او هويتـــه ســـړی

لکـــه ګـــل وچ شـــوم پـــه خپلـــه اســـتانه کـــې
اور بـــل شـــوی د پښـــتون پـــه ګلخانـــه کـــې

يوويشـــتمه پيـــړۍ هـــم پـــر مـــا ســـور اور ده
لا جګـــړې دي پـــر مـــا دغـــه زمانـــه کـــې

خبـــر نـــه يـــم چـــې پـــر مـــا بـــه نورځـــه کېـــږي
ځـــومره وژنـــي بـــه مـــې خپلـــه اشـــيانه کـــې

د زړه درد مـــې خدايـــه چاتـــه معلـــوم نـــه دی
لا منـــزل مـــې معلـــوم نـــه دی ويرانـــه کـــې

د ســـاقي د لاســـو جـــام هـــم راتـــه اور دی
لا ورکېـــږي ســـره شـــراب پـــه پيمانـــه کـــې

د خاونـــد مـــخ کـــې جنســـي تيـــری پـــرې کېـــږي
ورور او پـــلار ورتـــه ولاړ پـــه زولانـــه کـــې

مطيـــع وايـــي ګـــران پښـــتونه خـــدای دې مـــل شـــه
تـــل وهلـــی يـــې هـــر چـــا پـــه دوســـتانه کـــې

لکــه ســپرلي کــې چــې رژيــږي تانــد زمــا ګلونــه
داســي تــالا مــه شــه هــيڅ وخــت کــي د بــل چــا ګلونــه

بــدرنګ صــياد راپســې ګرځــي ګــوډ پــه ګــوډ مــې څــارې
لــــه مــــرۍ غلــــي رانــــه اخلــــي زمــــا ســــاه ګلونــــه

زمــا پــه شــان لکــه ريښــې، ريښــې ګرېــوان چــې ګرځــي
داســـي پـــه بـــن کـــې د پښـــتون تـــالا والا ګلونـــه

ســترګې مــي ســرې څــه لــه شــرابو او لــه بنګــو نــه دي
د ظلــم زور دی چـــې مـــې تـــل دي پـــه ژړا ګلونـــه

خــود بــه راغــورځي پاڼــه، پاڼــه لــه نــازکو څــانګو
چـــې مـــي پښـــتو، غيـــرت کـــي وينـــي د حيـــاء ګلونـــه

ســتا د ښايســت يــو مــړاوی شــوی ګــل پــرې نــه ورکــوي
مطيـــع تـــه ورکـــړي کـــه دنيـــا ټولـــه دنيـــا ګلونـــه

لکـــه درد د تـــودو شـــګو ټکـــور غـــواړي
داســـې زړه مـــې يـــاره ســـتا د زړه کـــور غـــواړي

ســـتا بېلتـــون کـــې لکـــه ګـــل هســـې رژېـــږم
بلبـــل زړه مـــې ســـتا ګلونـــو کـــې شـــور غـــواړي

د افغـــان پـــه کـــور هـــر وختـــې قتـــل عـــام دی
دا واړه، واړه بچـــي پـــلار او مـــور غـــواړي

کـــه هـــر څـــو يـــې ويښـــومه نـــه ويښـــيږي
پښـــتنو دغـــه پښـــتون نـــور پېغـــور غـــواړي

چـــې پـــرې تنـــده د هجـــران کـــړي ســـمه ماتـــه
مطيـــع هغـــه د زړه ســـر ســـترګو تـــور غـــواړي

لکـــــه خنجـــــر زمـــــا د زړه نـــــه وځـــــي
ســـــتا د تېـــــرو بنـــــو چشـــــمانو بـــــاران

دا ســـــتا د لاس کـــــانې چـــــې اوري پـــــر مـــــا
لکـــــه پـــــه مـــــا وي د ګلانـــــو بـــــاران

خدايـــه لـــه ظلمـــه بـــه يـــې خـــلاص شـــو کلـــه؟
رابانـــــــــدې دی د قـــــــاتلانو بـــــــاران

زړونـــه صـــفا مـــو لـــه نفـــاق کـــړې خدايـــه
رانـــــه کـــــړې ورک د شـــــيطانانو بـــــاران

پـــــه مـــــا يـــــې ورځـــــې د ببلتـــــون راوســـــتې
ځـــــومره دی بـــــد د غمـــــازانو بـــــاران

ســـــوله بـــــه هلـــــه شـــــي قايمـــــه دلتـــــه
کـــــه شـــــي پيـــــرزو د مينـــــانو بـــــاران

مـــــا ورســـــره ټـــــول عمـــــر وفـــــا کـــــړې
کـــــوي هغـــــه د جفاګـــــانو بـــــاران

مـــونږ يـــې د ژونـــد ارام تـــه پـــرې نښـــودو
اوس دی زمـــــونږ پـــــر ګاونـــــډيانو بـــــاران

مطيـــع بـــه هلـــه شـــی بيـــا مـــوږ پـــه مينـــه
چـــــې کلـــــه وشـــــي د خوبـــــانو بـــــاران

لکـــه پـــه فصـــل چـــې بـــاران وريـــږي
داســـي مـــي زړه بانـــدې جانـــان وريـــږي

خـــدای خبـــر زه بـــه وريـــادپرم کنـــه؟
پـــه ســـوچ او خيـــال مـــي هـــر زمـــان وريـــږي

داســـي د عشـــق پـــه ســـمندر کـــې ډوب يـــم
لکـــه بـــې وريځـــو چـــې آســـمان وريـــږي

خـــدايزده کـــه مـــا تـــه يـــي شـــي فکـــر کلـــه
د يـــار پـــه زړه چـــې رقيبـــان وريـــږي

دغـــه بـــې رحمـــه عـــدالت چـــې ګـــورم
پـــه زړه زمـــا د غـــم داســـتان وريـــږي

څنګـــه بـــه تـــا تـــه انتظـــار نـــه يمـــه
چـــې ســـتا د حســـن پـــوره شـــان وريـــږي

نـــاقرار ژونـــد چـــې نـــاقرار تړيـــږي
پـــه مـــا د عشـــق د اور طوفـــان وريـــږي

څنګـــه مـــزار تـــه بـــه يـــي نـــه ورځمـــه
پـــه آزادۍ کـــې شـــهيدان وريـــږي

حيـــران بـــه شـــي ورتـــه اهـــو د خُـــتن
د يـــار لـــه زلفـــو چـــې ګـــلان وريـــږي

ماتـــه تـــوپير د ســـپين او تـــور نشـــته دی
د دواړو ظلـــم چـــې يـــو شـــان وريـــږي

ســـاه بـــه ارامـــه بانـــدې څنګـــه واخلـــم؟
چـــې پـــه وطـــن مـــې غليمـــان وريـــږي

دا د يتـــيم ژړا تـــر هغـــو بـــه وي
چـــې څـــو مـــو مـــنځ کـــې غلامـــان وريـــږي

کـــه متحـــد نـــه شـــوې پښـــتونه ورک يـــې
د غـــم بـــاران بـــه پـــه افغـــان وريـــږي

د ظالمـــانو ظلـــم زور لـــه لاســـه
هـــره کوڅـــه کـــې يتيمـــان وريـــږي

پښـــتو بـــه څنګـــه ســـرې غـــوتې نـــه نيســـي
هـــر يـــو غـــزل مـــې ګلســـتان وريـــږي

پـــه هـــر يـــو بيـــت کـــې مطيـــع ســـتايي جانـــان
ځکـــه ټپـــه د يـــا قربـــا ن وريـــږي

لکـــه بـــاد غونـــدې مېلمـــه مـــې د نظـــر شـــوې
تړمـــه اوښـــکه مـــې دننـــه پـــه ځيګـــر شـــوې

مـــا پوښـــتنه زړه نـــه وکـــړه چـــې دا ولـــې؟
ځـــواب دا وه بـــاران ځـــاڅکی پـــه ټټـــر شـــوې

دا شـــپېه دومـــره خـــوږه وه چـــې پـــوی نشـــوم
چـــې زه تـــه وم او کـــه تـــه مـــې د زړه ســـر شـــوې

د اغيـــارو چـــې زمـــونږ لـــوري تـــه پـــام شـــوه
پـــه کتلـــو د اغيـــارو لا بـــد تـــر شـــوې

ای افغانـــه! تـــه شـــاهين د لـــوړو غـــرو يـــې
ولـــې ايـــل شـــوې خـــوار او زار او در بـــدر شـــوې

لا خـــو جـــام راتـــه ســـاقي راکـــړی نـــه وو
ســـتا پـــه خيـــال شـــومه نشـــه خمـــار اثـــر شـــوې

لښـــدې وريځـــې دې د جنـــګ پـــه ســـپين ډګـــر کـــې
تـــور بانـــه زمـــا ګوګـــل بانـــدې خنجـــر شـــوې

ســـتا وعـــده وه د کلونـــو چـــې بـــه ســـتا يـــم
دومـــره ژر ولـــې زمـــا نـــه لاس پـــه ســـر شـــوې؟

چې يې تور کړې په تهمت د تورو سترګو
بې همته ولې بيا ورته حاضر شوې؟

کارنامی د ستر خوشحال دې هيرې کړې
تور مغوله ځکه پروت په لر اوبر شوې

ستا نيکونو خپل ضمير نه ؤ خرڅ کړی
په څه وجهه ته غلام د بل د زر شوې؟

چې دې سترګې په اشنا مطيع شوې بنخې
درزا جوړه وارخطا ولې اوتر شوې؟

لکـــه اوښـــکه يـــوه شـــپه پـــه بڼـــو بـــار وي
د ژونـــدون فرصـــت همداســـي لـــږ مقـــدار وي

ژونـــدون څـــه دی بـــس د ژمـــي مـــازيګر دی
لا دا خـــل نـــه وي مابنـــام پســـي تيـــار وي

کـــه پـــرون و پـــرون تللـــی ســـبا نشـــته
ســـبا اوس دی چـــې روان ورســـه روزګـــار وي

څـــو ژونـــدی يـــې کـــړه د ژونـــد نـــه ګټـــه پورتـــه
بېـــړه وکـــړه عمـــر درومـــي پـــه رفتـــار وي

زمـــونږ ژونـــد بـــه پـــه اغـــزو کـــې ولـــې نـــه وي
چـــې دا حـــال وي دا مـــو مشـــر دا ســـردار وي

خـــود بـــه مـــونږ د مرګـــي کـــومې تـــه ځـــان ســـپارو
چـــې پـــه مـــونږه مســـلط نفـــاق ښـــامار وي

چـــې ســـبا لاســـونه مـــروړې او وخـــت تېـــر وي
کـــه بـــوډا شـــوې مطيـــع څـــه بـــه دې روزګـــار وي

لکـــه چـــې عشـــق تـــل پـــه جنـــون ختميـــږي
ژونـــد پـــه بيابـــان د خـــوار مجنـــون ختميـــږي

مـــرګ نـــه پـــه وړ او نـــه پـــه زوړ دی وايـــي
خـــو پـــه ډيـــرې بانـــدې ژونـــدون ختميـــږي

د دنيـــا چـــارې دي د ژونـــده پـــورې
چـــې ســـړی مـــړ شـــي هـــر مضـــون ختميـــږي

لکـــه مـــرض ټولنـــه خـــوري لـــه منځـــه
چـــې نفـــاق زور شـــي پيوســـتون ختميـــږي

چـــې مشـــر کشـــر نـــه وي کـــور کـــې معلـــوم
هلتـــه خبـــره د ســـمون ختميـــږي

تـــل د مطيـــع پـــه زړه دا يـــو غـــم پـــروت دی
چـــې پښـــتانه لـــه خپـــل پښـــتون ختميـــږي

لا تـــــر اوســـــه ســـــتا يادونـــــه راســـــره دي
ســـــتا فـــــراق کـــــې تـــــول غمونـــــه راســـــره دي

د وطـــــن لارې کـــــوڅې کـــــړم ځنګـــــه هيـــــرې؟
درلېـــــږم يـــــې ســـــلامونه راســـــره دي

د خـــــاپوړو کلـــــی کـــــور راتـــــه پـــــه زړه دی
هغـــــه لـــــور لـــــور چينارونـــــه راســـــره دي

کـــــه روان يمـــــه کـــــه ناســـــت يـــــم راســـــره يـــــې
هـــــم پـــــه ويښـــــه ســـــتا خوبونـــــه راســـــره دي

ســـــتا پـــــه يـــــاد کـــــې د زړه غـــــم غلطومـــــه
پـــــه پـــــردیس کـــــې ســـــتا دردونـــــه راســـــره دي

لا تـر څـو بـه پـه خپـل مـنځ کـې سـره وران يـو
درې وړې قافلـــــه کـــــې بـــــه روان يـــــو

لا تـــر اوســـه مـــو هـــدف خپـــل معلـــوم نـــه کـــړ
لا ترڅـــــو بـــــه نابلـــــدي د کـــــاروان يـــــو

اتحـــــــاد او اتفـــــــاق راپکـــــــې نشـــــــته
نـو تـر څـو بـه د خپـل ورور نـه روی ګـردان يـو

پـــــه وړه خبـــــره ورور نـــــه کســـــات اخلـــــو
لا تـــــر کـــــومې بـــــه نـــــاپوه او جـــــاهلان يـــــو

بـــل څـــوک نـــه دی مـــونږه خپلـــه ملامـــت يـــو
د پښـــــتون ولـــــس پخپلـــــه قـــــاتلان يـــــو

مريـــان بـــه مـــو مشـــران د بـــل تـــر څـــو وي؟
لا تـــــر څـــــو بـــــه يـــــې د ســـــندرو بلـــــبلان يـــــو

اســـارت بـــه وي تـــر څـــو زمـــونږ پـــه برخـــه
مطيـــع څـــو پـــورې بـــه مـــونږه غلامـــان يـــو

کـــور مـــې وســـو کلـــی وســـو او ځـــان وســـو
لا اور بـــل دی پکـــې ټـــول ســـود او زيـــان وســـو

تـــش کـــالبود يـــم لـــه نظـــره يـــم لوړيـــدلی
هـــر څـــه وســـو خپلـــوان وســـو جانـــان وســـو

د زورواکـــــو پاچـــــاهي ده پکـــــې مرمـــــه
د نـــــااهلو دي ظلمونـــــه ارمـــــان وســـــو

ســـړي خـــوره وينـــه څکـــونکی دی راغلـــی
مېلمـــه زور دی کوربـــه وســـو ميزبـــان وســـو

د ســـپرلي ګلونـــه وســـول ټـــول خـــزان شـــول
غـــوټی وســـوې بوســـتان وســـو باغبـــان وســـو

امـــام مخکـــې ســـپين لبـــاس يـــې د ريـــا دی
مقتـــدي غريـــب پـــه صـــف کـــې حيـــران وســـو

ســـمه او غـــر راتـــه بـــلا شـــول دواړه يـــو شـــان
رمـــه وســـوه شـــپونکی وســـو چوپـــان وســـو

د ريـــا ګـــرم بـــازار کـــې زاهـــد ګـــرم
اســـلام وســـو عمـــل وســـو ايمـــان وســـو

قـــافلې چـــې بـــه راتلـــې اوس هغـــه نـــه دي
کـــډې وســـوې کـــوچی وســـو کـــاروان وســـو

مـــال دولـــت پـــر وړانـــدې ډيـــرو ســـر تيـــټ کـــړی
همـــــت وســـــو شـــــملې وســـــوې شمشـــــان وســـــو

د ميونـــــد لـــــه دښـــــتې داســـــې زګيـــــروي خيـــــژي
ايـــــوب وســـــو ملالـــــی يـــــا قربـــــان وســـــو

ځمکـــــه ســـــره شـــــوه د پښـــــو لانـــــدې مـــــې اور دی
فضـــــا وســـــوه هـــــوا وســـــوه آســـــمان وســـــو

د ډالـــــرو زور دی ټـــــول چـــــې چوپـــــه خولـــــه يـــــو
تهـــــذيب وســـــو مـــــذهب وســـــو قـــــرآن وســـــو

د پيړيـــــو نمـــــرود بيـــــا راژونـــــدی شـــــوی
د بوتـــــــانو عبـــــــادت دی زمـــــــان وســـــــو

نـــــن ولاړ د مـــــرګ پـــــه پولـــــه مـــــې ســـــلګی دي
ژونـــــدون وســـــو روزګـــــار وســـــو ارمـــــان وســـــو

زه مطيـــــع بـــــه ځنګـــــه نـــــه مـــــرم لـــــه دې غمـــــه
دې راغلـــــو ســـــره هـــــر يـــــو افغـــــان وســـــو

کـــه مـــې روح دی کـــه روان او کـــه مـــې تـــن دی
راتـــه تېـــر لـــه دې هـــر څـــه نـــه خپـــل وطـــن دی

شـــان شـــوکت مـــې لـــه وطـــن ســـره تړلـــی
د وطـــن لار کـــې تړلـــی مـــې کفـــن دی

مـــال او ســـر مـــې لـــه وطـــن څخـــه جـــار باســـم
نظرانـــه مـــې تربنـــه ســـر او خپـــل بـــدن دی

د دنيـــا پـــه هـــېڅ يـــو ځـــای بـــه يـــې ورنـــه کـــړم
کـــه يـــې دښـــته ده کـــه غرونـــه کـــه چمـــن دی

د مطيـــع زړه خـــو تـــرې کلـــه نـــه صـــبريږي
ورتـــه تېـــر لـــه هـــر وطـــن لـــه هـــر خـــتن دی

کـه مـې بـر دی کـه مـې لـر دی اور پـرې بـل دی
مـــوده وشـــوه پېښـــور هـــم مـــې کابـــل دی

زمـــا زړه ورســـره خدايـــه ســـم نړيـــږي
قتـــل عـــام مـــې پـــه ولـــس دی جـــوړ غوبـــل دی

ډېـــر کلونـــه مـــې پـــه خـــاوره اور بلېـــږي
هـــر وګـــړی ســـوی ســـکور پـــه هـــر يـــو ځـــل دی

خدايـــه ځنـــګ لـــه دې ســـتمه نـــه ځـــان خـــلاص کـــړم
د غليمـــه ســـره ورور چـــې مـــې نـــن مـــل دی

زه يـــې پېـــژنم پـــه مـــا چـــې ظلـــم کانـــدي
بـــل ځـــوک نـــه دی هـــم شـــريک مـــې ورســـه خپـــل دی

مطيـــع وايـــي ورځ راځـــي بـــدل بـــه اخلـــم
زه بچـــــی د ابـــــدالي دا مـــــې تکـــــل دی

کـــــه ګنـــــاه وي ســـــتا د شـــــوندو بنـــــکلول
مانـــه شـــوی دی دا کـــار پـــه څـــو، څـــو ځـــل

چـــې کاتـــه راتـــه کـــوې د ســـترګو لانـــدې
تـــور بـــارود پـــه زړه لګيـــږي ســـتا کجـــل

پـــه مشـــکي وربـــل کـــي ګـــل چـــې دې نـــن کېښـــود
روغ بـــه نـــه ځـــم همـــدا دی زمـــا اجـــل

زمـــا زړه بانـــدې ګـــذار دی لکـــه تـــوره
چـــې کـــوې ګلـــه پـــه ســـرو شـــوندو خنـــدل

ســـتا پـــه تـــور بانـــدې مـــې نيســـي دنيـــا ځکـــه
ماتـــه پېښـــه دا کيســـه ده لـــه ازل

څـــه بـــه کـــم شـــي ســـتا پـــه در کـــې ســـتمګرې
چـــې پېـــرزو کـــړې پـــر مـــين د حســـن ګـــل

عجيبـــه دې حيـــران کـــړی محبـــت يـــم
نـــه پـــردی شـــوم لا تـــر اوســـه نـــه دې خپـــل

د زړه غوښـــې درلـــه در بـــه کـــړي قلنـــګ کـــې
مطيـــع کـــړه يـــاره يـــو ځـــل د زړه غنـــدل

کـــه بـــې تـــا نـــه يـــم ســـلطان وطنـــه څـــه
يـــا پاچـــا د درســـت جهـــان وطنـــه څـــه

کـــه لـــه تـــا نـــه يمـــه لـــرې نـــه يـــې غـــواړم
شـــم کـــه ســـتورى د آســـمان وطنـــه څـــه

ســـتا پـــه غېـــږ کـــې ملنګـــي مـــې ده قبولـــه
کـــه پـــه بـــل وطـــن کـــې خـــان وطنـــه څـــه

ســـتا وګـــړي دومـــره ډېـــر دي ماشـــالله خـــو
چـــې دا ســـتا نشـــي درمـــان وطنـــه څـــه

ځينـــو، ځينـــو دې د ســـر ســـودا ده کـــړې
اوس کـــه شـــي نـــو پښـــيمان وطنـــه څـــه

مطيـــع نشـــي پـــه خبـــرو عمـــل غـــواړي
تـــش پـــه خولـــه کـــه شـــم داســـتان وطنـــه څـــه

کنړونـه

کنړونـــــــــه مـــــــــي وطـــــــــن دی
مـــــا تـــــه ګـــــران لـــــه هـــــر چمـــــن دی

پېدايښـــــــت مـــــــي پکـــــــي شـــــــوی
مـــــا تـــــه خـــــوږ لـــــه هرمســـــکن دی

کنړونـــــــــه زمـــــــــا کـــــــــور دی
دا خـــــوږ زړه مـــــي پـــــري ټکـــــور دی

مـــــا خـــــاپوړي پکـــــي کـــــړي
ځکـــــه تـــــل د ســـــترګو تـــــور دی

کنړونـــــــــه مـــــــــي دی ځـــــــــان
مـــــا تـــــه ګـــــران دی لـــــه جهـــــان

هـــــر وګـــــړی زمـــــا ورور دی
مـــــا تـــــه تـــــل دی قـــــدردان

اوس ســـــــــــتایمه کنړونـــــــــــه
پـــــري لیکمـــــه څـــــو بیتونـــــه

پېـــــل یـــــي کومـــــه لـــــه خیـــــوي نـــــه
لـــــه ښایســـــته مـــــزار دري نـــــه

خـــــاص کنـــــړ دی کـــــه نورګـــــل
د کنـــــــــــړ دواړه ګوګـــــــــــل

د څـــــــــــــــوکی مازیګرونـــــــــــــــه
دري نـــــــــــور کـــــــــــي پښېرونـــــــــــه
بودیـــــــــالی شـــــــــوه راپـــــــــه یـــــــــاد
پشـــــــــــــــدونه دي وي بنـــــــــــــــاد

لمټـــــــــــک دی کـــــــــــه نرنـــــــــــګ
پـــــــــري بنایســـــــــته د کنـــــــــړ رنـــــــــګ

ســـــــــــرکانړو ده کـــــــــــه ډنډونـــــــــــه
پـــــــــري بنایســـــــــته دی کنړونـــــــــــه

ســـــــــــالار بـــــــــــاغ او نوآبـــــــــــاد
کنړونـــــــــــه پـــــــــــري ابـــــــــــاد

دغـــــــــــه دم کلـــــــــــی یارګـــــــــــل
د کنـــــــــــړ د څنـــــــــــي ګـــــــــــل

ده شـــــــــونکړۍ کـــــــــــه مـــــــــــروره
ده د مینـــــــــــي جـــــــــــادوکره

کـــــــــــه کیرالـــــــــــه اندرســـــــــــپر
پـــــــــه کنـــــــــړ لـــــــــه ســـــــــره تېـــــــــر

کـــــــــه نـــــــــاړه ده کـــــــــه شـــــــــولتن
د کنـــــــــړ دی ځـــــــــان او تـــــــــن

شـــــــــین کنـــــــــړک دی کـــــــــه شـــــــــیګل
د اســـــــــمار ســـــــــره ویګـــــــــل

هـــــــــم کامـــــــــــديش برګيمټـــــــــــال
د کنـــــــــــړ د تنـــــــــــدي خـــــــــــال

دا وامـــــــــــــــا او کـــــــــــــــانتيوا
د کنـــــــــــړ زړګـــــــــــــي رســـــــــــا

چپـــــــــــــــه دره او دا مورچـــــــــــــــل
د کنـــــــــــړ ســـــــــــره تـــــــــــل مـــــــــــل

د کنـــــــــــډی ســـــــــــــه نـــــــــــــنګلام
بارکنـــــــــــډی ســـــــــــــه ريچـــــــــــــلام

بيـــــــــــا ډاګونـــــــــــــه ســـــــــــــيمتام
د کنـــــــــــړ ســـــــــــره هـــــــــــر ګـــــــــــام

وټـــــــــــه پـــــــــــور ســـــــــــره څانګـــــــــــار
د کنـــــــــــړ ښـــــــــــکلی نګـــــــــــار

دا قـــــــــــروه کتـــــــــــار قلـــــــــــع
د ديـــــــــــوز ســـــــــــه ټوســـــــــــقلاع

شـــــــــــامير کـــــــــــوټ او دا قمچـــــــــــي
کيمګـــــــــــام او ماشـــــــــــوګل او دا غونـــــــــــدي

د شـــــــــــوړيک ســـــــــــره او چـــــــــــال
د کنـــــــــــړ دی ســـــــــــر او مـــــــــــال

دا څپـــــــ

مـــين زړه مـــې پـــه غمونـــو کـــې حصـــار شـــي
چـــې لـــه زلفـــو نـــه ښـــکاره دې ســـپين رخســـار شـــي

شـــومه ســـترې پـــه درتلـــو، درتلـــو ســـتا در تـــه
چـــې دې کلـــي تـــه نـــژدې شـــمه ســـهار شـــي

چـــې دا ســـتا د راتلـــو نـــوم راتـــه ځـــوک واخلـــي
زړه مـــې ووځـــي لـــه ګوګـــل نـــه نـــاکرار شـــي

ســـتا د هجـــر پـــه غرمـــو کـــې ســـوی ســـکور شـــوم
يـــو ځـــل راشـــه چـــې د مينـــې مـــو ديـــدار شـــي

ســـتا وصـــال تـــه زمـــا دومـــره تلوســـه ده
لکـــه ګـــل چـــې د شـــبنم پـــه انتظـــار شـــي

دا د مينـــې شـــپې مطيـــع بانـــدې پېـــرزو کـــړه
پـــه ســـينه دې لکـــه لـــړ د غـــاړې هـــار شـــي

اې رنـــدانو زه پـــه زغـــرده دا وعـــده کـــړم
دا حـــرم بـــه يـــو ســـاعت کـــې مېکـــده کـــړم

کـــه موســـم يـــې د ځـــوانۍ پـــه حســـن راغـــی
يـــم حاضـــر چـــې دا خپـــل ســـر تـــرې صـــدقه کـــړم

پېغلتـــــوب دې غـــــوټۍ وســـــپړلې راشـــــه
چـــې پـــه شـــونډو دې دا خپلـــه خولـــه خـــوږه کـــړم

د وصـــــال شـــــيبې خـــــورې دي ډېـــــرې لنـــــډې
کـــه هرځـــومره د ژونـــدون شـــپې شـــبګېره کـــړم

ســـتا د شـــونډو ښـــکلولو پـــه ارمـــان کـــې
ســـل تـــوبې بـــه هغـــه جـــام نـــه نظرانـــه کـــړم

انتظـــــار يـــــم د ګلانـــــو قـــــافلې تـــــه
چـــې دوه دري دې تـــورو زلفـــو تـــه تحفـــه کـــړم

کـــه دې يـــو وېښـــته تـــه لـــږ څـــه زيـــان رســـېږي
پـــه ورونـــو کـــې بـــه ځـــان درتـــه لمبـــه کـــړم

رب دې نـــه کـــړي کـــه تـــه نـــه وې زه بـــه نـــه يـــم
ســـتا لپـــاره د ژونـــدون شـــمع بـــه مـــړه کـــړم

رؤفـــــي بـــــه دې راتلـــــو تـــــه لارې څـــــاري
پـــه تيـــارو کـــې بـــه خپـــل ځـــان درتـــه ډيـــوه کـــړم

خوږې موږې!

مـــــوږې مـــــنم چـــــې د عـــــزت نښـــــه يـــــې
هـــــم پښـــــتنه يـــــې د عفـــــت نښـــــه يـــــې

چـــــې زېږولـــــى دې پښـــــتون يمـــــه زه
دا خـــــو ښـــــکاره ده د حکمـــــت نښـــــه يـــــې

تـــــا زنګـــــولى د غيـــــرت پـــــه زانګـــــو
ځکـــــه خـــــو وايـــــم د غيـــــرت نښـــــه يـــــې

د ژونـــــد پـــــه راز دې پوهـــــولى يمـــــه
تـــــه پـــــه ربښـــــتيا چـــــې د حوريـــــت نښـــــه يـــــې

ســـــتا عـــــاطفې او شـــــفقت تـــــه ســـــلام
د بشـــــريت او انســـــانيت نښـــــه يـــــې

تـــــا خـــــو راکـــــړى د ايمـــــان ســـــبق دى
بـــــلا دې واخلـــــم د عبـــــرت نښـــــه يـــــې

د وطـــــن مينـــــه راتـــــه تـــــا ښـــــودلې
هـــــم د ايمـــــان او رســـــالت نښـــــه يـــــې

لار د نفـــــرت مـــــې ځکـــــه پرېښـــــوده چـــــې
د اتفـــــاق او د وحـــــدت نښـــــه يـــــې

مـــونږ راټـــول کـــړي پـــه يـــو کـــور کـــې يـــو تـــا
زمـــــونږ پـــــر ژونـــــد د برکـــــت نښـــــه يـــــې

پـــــه ټولـــــو چـــــارو کـــــې ســـــپيڅلې يـــــې تـــــه
خـــــورې مـــــورکې د صـــــداقت نښـــــه يـــــې

ســـــتا د حيـــــاء پرونـــــې درونـــــد دی مـــــورې
ســـــمبول د مينـــــې د حرمـــــت نښـــــه يـــــې

پـــــت د نـــــازو او زرغـــــونې انـــــا يـــــې
د ملالـــــې د لـــــوړ عظمـــــت نښـــــه يـــــې

تـــا احمـــد شـــاه غونـــدې بچـــي ســـتر کـــړي
د ميـــــرويس خـــــان د قيـــــادت نښـــــه يـــــې

د خوشـــــحال خـــــان او د رحمـــــان ادې يـــــې
تـــــه د روښـــــان د روحانيـــــت نښـــــه يـــــې

مـــــا رؤفـــــي تـــــه شـــــبګيرې دې کـــــړي
خـــــورې مورجـــــانې د محنـــــت نښـــــه يـــــې

د کنړ په ياد

کنـــړه ســـتا مـــې جګـــو غـــرو تـــه ســـلام
ســـتا مـــې دې شـــنو ښـــکلو درو تـــه ســـلام

چـــې پـــو د پـــېج او بـــل اســـمار پـــه نـــوم دی
لـــه مســـتۍ ډک دواړو ســـيندو تـــه ســـلام

اســـعدآباد کـــې چـــې يـــو کېـــږي دواړه
د ســـرکانو ښـــکلو بېلـــو تـــه ســـلام

چـــې اوس پـــادپرۍ د کنـــړ ســـيند پـــه نـــوم
وهـــه موجونـــه ســـتا موجـــو تـــه ســـلام

زړونـــو کـــې خيـــال چـــې د مســـتۍ زېـــږوي
ســـتا د شـــکال مســـتو څپـــو تـــه ســـلام

چـــې ســـتا پـــه ويـــاړ مشـــاعرې جـــوړېږي
پـــه غورځنـــګ درومـــه غورځنګـــو تـــه ســـلام

چـــې پکـــې غـــږ د يـــا قربـــان خونـــد کـــوي
بيـــا دې نـــو ښـــکلو تـــاترو تـــه ســـلام

چـــې غـــږوي شـــپېلۍ د زړه لـــه تلـــه
د هـــر شـــپونکي خـــوږو تپـــو تـــه ســـلام

د زړه مرغـــۍ چـــې پـــه آواز راولـــي
زمـــا يـــې دنګـــو جګـــو غـــرو تـــه ســـلام

چې جينکې منګي په سر ورتللي
د جلالا خوږو اوبو ته سلام

چې دې مرغان د سپرلي زېری راوړي
سيسۍ، زرکانو، توتکو ته سلام

د غرو لمنې پرې زرغوني ښکاري
په غرو رغو کې ستا ځېړو ته سلام

سېنګاروي د دلوي مياشت کې غرونه
چې سره ګلان دي وړختو ته سلام

د نجونو ځنو کې ګلان چې ټومبي
ستا مې دې ښکلو پسرلو ته سلام

چې زړه رابنکونکي موسيقي لري ته
ستا د منګي، ستار، نغمو ته سلام

چې ماشومان پکې تل لوبې کوي
د شوره ډکې ستا دېرو ته سلام

خوږلي ماتې مقدوني سکندر
له برمه ډکه مو نېکو ته سلام

مېلمه پالنه کې چې نوم لري ته
د مېلمنو ډکو حجرو ته سلام

رؤفي وايي د غېرت نښه يې
د ټول کنړ جګو شملو ته سلام

مه راځه سپرليه

مـــه راځـــه ســـپرليه د غمونـــو کـــور تـــه مـــه راځـــه
دلتـــه امـــن نشـــته د جنګونـــو کـــور تـــه مـــه راځـــه

مـــه راځـــه ســـپرليه دلتـــه چـــم پـــه چـــم ژړا ده اوس
ســاندې او زګيـروي دي د ويرونـو کـور تـه مـه راځـه

مه راځه سپرليه دلتـه هر څـوک پـه خپـل غـم کـې ډوب
اوښـکې شـوې سـيندونه د سـيندونو کـور تـه مـه راځـه

مـــه راځـــه ســـپرليه ســـرو غوتيـــو کـــې بـــارود پراتـــه
بـــڼ تـــالا والا دی د دردونـــو کورتـــه مـــه رآځـــه

مـــه راځـــه ســـپرليه دلتـــه ښـــه او بـــد معلـــوم نـــه دي
هـر خواتـه مرګـی دی د مرګونـو کـور تـه مـه راځـه

مـه راځـه سـپرليه کـور پـه کـور باندې لمبـې ګرځـي
وچ او لامـــده ســـوزي د اورنـــو کـــور تـــه مـــه راځـــه

مـــه راځـــه ســـپرليه د حـــق ځـــای باطـــل نيـــولی دی
تـــش ظـــاهرداري ده د رنګونـــو کـــور تـــه مـــه راځـــه

مـــه راځـــه ســـپرليه مـــونږه شـــخړې جـــوړې کـــړې دي
چـم پـه چـم غلـه ناسـت د فسـادونو کـور تـه مـه راځـه

مـــه راځـــه ســـپرليه د مطيـــع زارئ قبـــولې کـــړه
دم ګـړی وحشـت دی د ظلمونـو کـور تـه مـه راځـه

مـــوري

مـــوري بـــې تـــا نـــه ژونـــد کـــولای نشـــم
لحظـــه بـــې تـــا نـــه تېرولـــی نشـــم
تـــه مـــې د ژونـــد د هيلـــو ســـتره هســـتي
بـــې لـــه تـــا يـــو نفـــس ويســـتلی نشـــم
****

زمـــا د ژونـــد ښـــکلی داســـتان يـــې مـــوري
تـــه عـــالي قـــدره عـــالي شـــان يـــې مـــوري
زمـــا قلـــم کـــې دومـــره زور نشـــته دی
صـــفت دی ټـــول بيـــانولی نشـــم
****

ســـتا د پښـــو لانـــدې جنـــت دی مـــوري
پـــه هـــر قـــدم دې برکـــت دی مـــوري
ســـتا د نامـــه ســـره تړلـــی مـــدام
جنـــت لـــه تـــا نـــه ببلـــولی نشـــم
****

تـــه مـــې د ژونـــد خـــوږه کيســـه يـــې مـــوري
د محبـــت ډکـــه چينـــه يـــې مـــوري
ســـتا عاطفـــه بيانېـــدلی نشـــي
الفـــت پـــه تلـــه دې تللـــی نشـــم
****

ژونـــدون لـــه تـــا نـــه مـــې قربـــان شـــه مـــورې
پـــوره پـــه ژونـــد دې هـــر ارمـــان شـــه مـــورې
تکليـــف چـــې لـــږ درتـــه رســـيږي کلـــه
درد دې پـــه خـــدای چـــې زه زغملـــی نشـــم

****

عمـــر زمـــا دې ټـــول داســـتا شـــي مـــورې
زړه بـــه مـــې هلـــه بـــې ســـودا شـــي مـــورې
خـــدای خـــو دې نـــه کـــړي چـــې بـــې تـــا شـــمه زه
بېلتـــون دې يـــوه لحظـــه منلـــی نشـــم

****

زه مطيـــع هـــر څـــو کـــه خـــدمت دې وکـــړم
بيـــا بـــه هـــم کـــم وي کـــه صـــفت دې وکـــړم
د نـــوم معنـــا دې دومـــره لـــوړه ده چـــې
زه يـــې څـــو ټکـــو کـــې ســـتايلی نشـــم

****

مســـتي هلـــه شـــي چـــې راشـــي پـــرې شـــباب
پهلـــوان شـــي يـــا رســـتم شـــي يـــا صـــحراب

بـــې خمـــاره ژونـــد بـــه ځنګـــه خلکـــه تېـــر شـــي
پکـــې نـــه وي چـــې مـــدام رنګـــين شـــراب

د انســـان لـــه ډلـــې يـــې نـــه شـــمېرم هېڅکلـــه
چـــې پـــه غـــم کـــې د وطـــن نـــه وي بيتـــاب

خيـر کـه نـن ټـول بيـت المـال يـي زمـونږ چـور کړ
ورځ راځـــي چـــې ورســـره کېـــږي حســـاب

بـــې پوښـــتنې بـــې دليلـــه زمـــا کـــور کـــې
ســـرو او تـــورو راتـــه جـــوړ کړلـــو خونـــاب

د افغـــان د بخـــت ښـــړۍ بـــه خدايـــه ځنـــګ شـــي
ســـمندر کـــې ده حصـــاره پـــه ګـــرداب

د افغـــان بچـــو ســـلګۍ مطيـــع تـــل اوري
د يتيمـــو اوښـــکې ځـــي لکـــه ســـيلاب

مرغۍ چې والوزي نو ځالې يې خالي پاتې شي
داسې مې زړه کې ستا يادونه پخواني پاتې شي

ستا لږ ديدن ؤ زما زړه دې ناکراره پرېښود
د هجر داغ به مې جانانه په زړګي پاتې شي

زه يم عاشق لکه فرهاد او د مجنون په شانې
زما به نوم په دې کاروان د لېونې پاتې شي

د عشق خبرې راځه وکړو مونږ د عشق په ژبه
دا افسانه به زمونږ دواړو ابدي پاتې شي

تا چې د زړه بازار لوټ کړی د مينو خلکو
نور نه رغيږي خدای خبر دی که ژوندي پاتې شي

نوم به ژوندی وي په نړۍ کې د هغو مېړنو
چې خپل ټبر سره تورزن او مېړنې پاتې شي

مطيع نيولی سر په لاس کې د خپل قوم لپاره
له خدايه غواړي په دې لاره تر مرګي پاتې شي

مـــا تـــه دومـــره معلـــومېږي چـــې يـــې ښـــکلې
د خوبـــــانو پـــــه ټـــــولګي کـــــې نـــــازولې

زمـــــــا زړه درپســـــــې لاړو اواره شـــــــوه
پـــه ښايســـته ســـترګو چـــې تـــا کلـــه کتلـــې

ســـــتا ځـــــواني او حســـــن دواړه معجـــــزه ده
پـــاک الله پـــه خپـــل قلـــم باونـــدې يـــې کښـــلې

لـــه رقيـــب مـــې ســـترګه نـــه ســـوځي جانانـــه
کـــه اقـــرار راتـــه يـــو ځـــل وکـــړې بلبلـــې

هـــره ســـاه پـــه هـــر نفـــس کـــې درتـــه وايـــم
بـــی لـــه تـــا نـــه مـــې ژونـــدون لکـــه خزلـــې

دا اقـــرار زمـــا تـــر مرګـــه پـــورې دا دی
ســـتا د مينـــې بنـــديوان يمـــه اغلـــې

نـــو تـــر څـــو بـــه دغـــه ســـتا جـــور او جفـــا وي
دا خبـــره درتـــه کړمـــه څـــو، څـــو ځلـــې

رؤفـــي دې پـــه مشـــکي وربـــل مـــين دی
ځکـــه ليکـــې دې پـــه يـــاد کـــې اوس غزلـــې

د خيبـــــر او د ســـــپين غـــــره ســـــينه زخمـــــي ده
د تـــــودو او ګرمـــــو شـــــګو ټکـــــور غـــــواړي

يتيمـــــان وهـــــي ســـــلګۍ پـــــه لـــــر او بـــــر کـــــې
خـــواران ســـټړي دي لـــه جنـــګ پـــلار او مـــور غـــواړي

د پښـــتون ګريـــوان تـــر اوســـه چـــا ټـــول نـــه کـــړ
لـــر او بـــر نـــور پـــه شـــريکه يـــو کـــور غـــواړي

د زړه وينـــــي مـــــې پـــــه لپـــــو ورتـــــه ورکـــــړې
دا ظـــــالم رانـــــه اوس ســـــر د خپـــــل ورور غـــــواړي

پنجـــــاني نـــــه مـــــو خلاصـــــى پـــــه زارو نشـــــي
انقـــــلاب او بغـــــاوت غـــــواړي شـــــور غـــــواړي

کـــــه پښـــــتون ځـــــان لـــــه نفاقـــــه بهـــــر نـــــه کـــــړي
داســـي ښـــکاري ځـــان ســـپزل پـــه ســـره اور غـــواړي

د پـــامير لـــور تـــه چـــې هـــر څـــوک کـــور کاتـــه کـــړي
دی کـــم بختـــه مطيـــع خپـــل تخـــت نســـکور غـــواړي

اورمـــــه زړګيـــــه چـــــې جانـــــان راځـــــي
بيـــا وران شـــوي کـــور تـــه مـــې درمـــان راځـــي

ســـتا ســـپېره جنګـــړه بـــه جنـــت شـــي بيـــا
ځکـــه چـــې د حســـن ټـــول جهـــان راځـــي

ټولـــــه دنيـــــاګي ورتـــــه حيرانـــــه ده
تـــه وا ښـــکته ځمکـــې تـــه آســـمان راځـــي

مينـــه زروره پـــه غـــرور هـــر وخـــت
مينـــې تـــه ســـر ټيټـــي هـــم شـــاهان راځـــي

شـــکر دی مـــذهب خـــو زمـــا مينـــه ده
ځکـــه مـــې درنښـــت تـــه عاشـــقان راځـــي

صـــبر بـــه جوګـــه کـــړم زړه بـــه نـــه بـــايلم
کلـــه وي وصـــال کلـــه هجـــران راځـــي

حـــال چـــې د خپـــل زړه د تپېـــدو ګـــورم
اوښـــکې مـــې پـــر مـــخ لکـــه بـــاران راځـــي

زه يـــې رؤفـــي پـــه لمبـــو ســـوی يـــم
کلـــه بـــه مـــې خواتـــه مهربـــان راځـــي

ستا بنايست نشته په هند او نه په شام کې
نه يې وينم نه په خاص او نه په عام کې

ستا د حسن په شغلو چې چم رڼا دی
لکه وړانګې د سپوږمۍ خاموش مابنام کې

د خپل رب په فيصله باندې راضي شه
در رسېږي ليکل شوی وېش ارقام کې

د ژوندون پيونډ سپنسۍ پشانته اوم دی
د لمحې په څېر تېرېږي اهتمام کې

د منظور له کارنامو نه يوه دا ده
لوی شعور يې پيدا کړی پښتون قام کې

د زړه غوښې مې له ياره دريغ نه دي
همېشه مې اوسي پاس د زړه مقام کې

چې په زړه يې اثر نه کړي څه فايده ده
مطيع مه يې ليکه زور نشته ستا کلام کې

ته خبر يې؟

ولې جوړ ته پاکستان يې ته خبر يې؟
تش په نوم ته مسلمان يې ته خبر يې؟

په ظاهره مسلمان خو پټ بې دينه
ځکه کفر باندې ګران يې ته خبر يې؟

ستا رياست تل د يهودو په خدمت کې
ته دوه مخې بې ايمان يې ته خبر يې؟

ته ترهګر يې ته قاتل د پښتنو يې
ته دښمن د هر افغان يې ته خبر يې؟

د اسلام په نوم دې ټول دي تېريستلي
په دې کار کې لوی هامان يې ته خبر يې؟

ستا وحشي فوج دی قاتل د مشرانو
ته قاتل د صمد خان يې ته خبر يې؟

تا عثمان لالا شهيد په قساوت کړ
او دښمن د باچا خان يې ته خبر يې؟

ګيله من دي بې ګناه په خوب ويده کړ
نه هندو نه مسلمان يې ته خبر يې؟

تـــا پـــه وينـــو بانـــدې رنـــګ منيـــر شـــاکر کـــړ
دسيســـو کـــې نمايـــان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

مولانـــا خانزيـــب دې لـــرې کـــړ لـــه مخـــې
اجرتـــي قاتـــل ارزان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

لنـــده دا چـــې تـــه اســـتاد د شـــر فســـاد يـــې
پاکســـتانه لـــوی شـــيطان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

ســـتا رهبـــر جنـــاح ملحـــد وو او کـــافر وو
چـــې يـــې تـــه پـــر لار روان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

د پښـــتون مـــلا فتـــوا پنجـــاب لپـــاره
پـــرې دوزخ تـــه بـــه روان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

ســـتا قـــانون او ســـتا اختيـــار د انګرېـــز لاس کـــې
حرامـــي د دې زمـــان يـــې تـــه خبـــر يـــې؟

مطيـــع ورکـــړ خپـــل پيغـــام و خپـــل ټبـــر تـــه
پـــه لفظـــو کـــې مـــې عيـــان يـــې تـــه خبـــر يـــې

نيمه شپه وه چې راووتم له بنارې خاموشي وه
ما د ستورو سره ونيوله لاره خاموشي وه

ستا د شنو خالونو بڼ مې کړ رنګين د زړه په وينو
زما ټوله شاعري وه ستا لپاره خاموشي وه

سلايي دې د رنجو شومه په خيال د تورو سترګو
په سوچو کې دې وم تللې تر سينګاره خاموشي وه

ما پوښتنه درنه وکړه چې ستا يار يم او که نه يم
لکه ګل دې په وربل يم تر مداره خاموشي وه

د ځيګر وينه مې پرخه شوه وريږي ستا په ګلو
لا په دې کې هم ستا نه شوم کنه ياره خاموشي وه

ياره وکړه فيصله چې ما څه کړي ستا په حق کې
ماسوا وړه بوسه ستا له رخساره خاموشي وه

چې مې غږ د تکبير واوري وارخطا ټول غليمان شي
شرنګ د توري ورسېږي تر اغياره خاموشي وه

تېرو تورو د بڼو دې راته ګوابڼ وکړ کتو کې
خالي زړه مې شوه ټوټې ستا له ګذاره خاموشي وه

خلکـه نـه ؤ دومـره جـرم هنګامـه شـوه ولـې جـوړه
فيصـــله وکـــړه مـــلا اوس ګناهګـــاره خاموشـــي وه

فقـــط يـــار راتـــه زکـــات د حســـن راکـــړ د لبـــانو
زاهـــد وکـــړه فيصـــله پـــه مـــا تـــر داره خاموشـــي وه

شـــهادت دې رالـــه وليکـــه ټـــولګي کـــي د مينـــو
اوس پـه مينـه يـو ځـل راشـه تـر مـزاره خاموشـي وه

اوبـــوي د ژونـــد ګـــلان د محبـــت پـــه رود د اوښـــکو
داســـې ټـــولې پښـــتنې هـــم شـــي ناچـــاره خاموشـــي وه

تـش پـه خولـه مطيـع تـه وايـي چـې سبا تـه بـه درځمـه
چـــې ســـبا شـــي بيـــا ســـبا شـــه انتظـــاره خاموشـــي وه

بې ګودره ګډې دل نه دي پکار
د ناپوهو او بې عقلو وي دا کار

انسانان په دنيا ډېر دي ښه هغه دی
چې يې کړی همېشه وي ښه کردار

هوښيارانو مشهور کړی دا متل دی
چې په بدو تامل په ښو تلوار

له تادی او عجلې نه مې توبه ده
شيطان کړی دی پر دغه لار رفتار

د خپل ځان خدمت ته هر څوک رسېدی شي
نر هغه چې شي د نورو خدمتګار

حوصله او صبر تريخ دي داسې وايي
خو مېوه يې ده خوږه هزار، هزار

نور به څه نصيحتونه درته وايم
څه چې وايم دا به پاتې شي يادګار

که خبرې د مطيع په غوږو اورئ
د بدانو سره مه ځئ هېڅ په لار

صـــــداقت نشـــــته دنيـــــا کـــــې تظـــــاهر دی
لـــــه دردمنـــــد زړه نـــــه مـــــې يـــــو الله خبـــــر دی

نـــــه پـــــوهيږو چـــــې مـــــونږ چاتـــــه پنـــــاه يوســـــو
پـــــه نـــــړۍ کـــــې هـــــرې خواتـــــه لـــــوی محشـــــر دی

بـــــد نيتونـــــه لـــــرو زړو کـــــې يـــــو او بـــــل تـــــه
کـــــه امـــــي دی کـــــه مُـــــلا دی کـــــه رهبـــــر دی

پـــــه ظـــــاهره يـــــو لـــــه بـــــل ســـــره خنـــــدا کـــــړو
پـــــټ پـــــه زړه کـــــې ورور لـــــه ورورە مـــــرور دی

اخـــــلاص نشـــــته راشـــــه درشـــــه لباســـــي ده
پـــــه هـــــر کـــــار کـــــې د هـــــر چـــــا خپـــــل، خپـــــل اثـــــر دی

مخـــــامخ يـــــو بـــــل تـــــه وايـــــو چـــــې مـــــې ورور يـــــې
خـــــو راخيســـــتی مـــــو يـــــو بـــــل پســـــې خنجـــــر دی

تـــــش پـــــه خولـــــه بانـــــدې دعـــــوه مـــــو د اســـــلام ده
پـــــه فريـــــب کـــــې مـــــو شـــــيطان غونـــــدې هنـــــر دی

پـــــه ظـــــاهره يـــــو د بـــــل د غـــــم خواخـــــوږي
خـــــو پـــــه زړه کـــــې مـــــو يـــــو بـــــل بانـــــدې اختـــــر دی

په بنکاره خو يو او بل ته چاپلوسي کا
پسې شاه خو يې بيا لوی دښمن د سر دی

خدای له پاره يو او بل ته مو نيت بنه کړئ
ټول به درومو يوه ورځې مو سفر دی

که نيکي په دې دنيا کې هر چا وکړه
دا مې واورئ د هغې دنيا ثمر دی

زه مطيع لکه بهلول درځينې لاړم
يو مې ګنج يو مې کچکول يو مې څادر دی

نـــور راوالـــوزه نســـيمه د افغـــان پـــه جګـــو غرونـــو
راژونـــدي کـــړه مســـيحا شـــه مـــړاوي زړونـــه د کلونـــو

پـــه ټپونـــو مـــرهم کېـــږده درمنـــد زړونـــو لـــه درمـــان شـــه
هـــر وګـــړي لـــه لقمـــان شـــه، شـــه مســـيح د مـــړاوو زړونـــو

خـــاوره مســـته کـــړه چـــې وســـپړي غـــوټې د ســـرو ګلانـــو
ســـپينه پرخـــه شـــه ورېـــږه د دې للمـــي پـــه فصـــلونو

پښـــتني پېغلـــي دي بنـــکلي د بنايســـت ثـــاني يـــې نشـــته
تشـــبيهات ورتـــه عـــاجز دي نـــه يـــې ويـــنم پـــه ګلونـــو

مطيـــع وايـــي ســـپېره مـــه شـــه پښـــتني پېغلـــي اور بـــل دې
ملکـــه يـــې د بنـــکلاوو خـــداى دې ســـاته لـــه غمونـــو

نــه غـزل دی نــه نغمــه ده د پښــتون د ژونــد کيســه ده
دا د کونـډو اه فريـاد دی دا يـې لــه خـولې وتــې نــاره ده

د يتــيم بچـــي ســلګی دي او د بـــورو مينـــدو ســـاندې
دا فريـــــاد دی دا ژړا ده دا زمـــــا د زړه لمبـــــه

دا تصـوير د لـر او بـر دی پـاس کابـل کـوز پښـور دی
تـور بـارود بمونـه اوري جـوړه يـې هـر ځـای حادثـه ده

د افغـان کـور مـې ورانېـږي هـر پښـتون مـې ځپـل کېـږي
لــه کلونــو پــرې تېرېــږي لــه پــردو جــوړه جګــړه ده

کلــه روس او کلــه غــرب کلــه ګاونـډ نــه نــاکرار يــم
تــرې نــه ســاه ارامــه نــاخلم د قيامــت پــه مــا صــحنه ده

هــم کنــدهار هــم پکتيــا ده هــم زابــل ميــدان وردګ دی
هــم هــرات هــم ننګرهــار دی پــه کنــدوز جګــړه تــوده ده

يــم بـــې وســـه ناتوانـــه د پوښـــتنې مـــې څـــوک نشـــته
په کاله مـې ګذارن ګران شـو دا نـړی پـه مـا هـم سـره ده

سپيرې شونډې سترګې سرې اوښکې مو وچې په ژړا شوې
دا زمـــا د قـــوم تصـــوير دی د ګونـــګ ژبـــو زمزمـــه ده

خلـق پـرچم کـه مجاهـد ؤ هـر يـو خپلـي لـوبې وکـړې
د پردیـــو غلامـــیِ کـــې څـــه بربـــاده پـــروژه ده

نه پوهیږم چېرته لاړ شم او خپل ځان چېرته خونـدي کـړم
دا خپل کـور کلـی مـې اور دی د بخـت برخـه مـې ویـده ده

دا حالت چې پرې کوم جوړ دی دا پـرې خپلـه خپلـو کـړی
لـــه بـــل چانـــه ګیلـــه نشـــته مطیـــع خپلـــو نـــه ګیلـــه ده

يې ګلاب د ګلابونو ګلغوټو کې
چې له ورايه نه ځليږي دامانو کې

نه پوهيږم چې تعريف دې څنګه وکړم
شاعر نه يم چې دې وستايم ټپو کې

ستا د حسن اوازې د هر چا غوږ کې
رسام نه يم چې انځور شې تصويرو کې

خو دا وايم تورتمونو له رڼا يې
نظارې دې د سپوږمۍ په پلوشو کې

د آسمان په ارته غېږ په شنه لمن کې
يې رڼا د رڼو ستورو په شغلو کې

د باغونو له ګلابه تورپل شوې
شهزادګۍ يې د مينو په کيسو کې

د ښکلا نړۍ مې ټوله وکتله
لا ثاني يې هندوچين په ښاپيرو کې

سره ګلان درته حيران ګوته په خوله دي
مړاوی کېږي هر يو ګل درته کتو کې

نــه تېــر شــوی ســتا پــه شــان څــوک دومــره ښــکلی
نـــه بـــه بيـــا راشـــي پـــه وروســـتو زمـــانو کـــې

د بـــودې د تـــال رنګونـــه مـــې بېـــل، بېـــل کـــړه
د ښـــکلا رنـــګ دې نـــه ويـــنم نظـــارو کـــې

تـــول ګلونـــه د بـــاغونو مـــې چـــان، چـــان کـــړه
ســـتا د مـــخ ګـــل مـــې ونـــه ليـــد پســـرلو کـــې

کاينـــات دې تـــول ښايســـت تـــه حيرانېـــږي
د ښـــکلا ثنـــا دې وايـــي پـــه ســـجدو کـــې

د الله پـــه خـــاص قلـــم يـــې جـــوړه شـــوې
خپـــل مطيـــع دې ځکـــه ســـتايي غزلـــو کـــې

نـــن مـــې څکلـــي ســـتا لېمـــو کـــې ســـره شـــراب
ځکـــــــه پـــــــاتې ميکـــــــده ده او محـــــــراب

ورکـــــــه لاره راتـــــــه ښـــــــايه رڼـــــــايي شـــــــه
کـــــــړه ډيـــــــوه دې راتـــــــه بلـــــــه د شـــــــباب

هـــــره ورځ مـــــې ســـــتا ديـــــدن تـــــه تلوســـــه وي
تـــــوره شـــــپه مـــــې کـــــړه بدلـــــه پـــــه افتـــــاب

دغـــــــه ســـــــتا د لېـــــــونۍ مينـــــــې يـــــــادونو
پـــــه ګريـــــوان راوســـــت د اوښـــــکو لـــــوی درياب

رائـــــه راشـــــه هېـــــر مـــــې نـــــه يـــــې د زړه ســـــره
خـــــاطری لـــــرم پـــــه زړه کـــــې ســـــتا پـــــه بـــــاب

د فـــــــراق شـــــــپې کـــــــه لنـــــــډې ســـــــتمګره
نـــــــور ډوبېږمـــــــه اخســـــــتی يـــــــم ســـــــيلاب

زمـــــا اه بـــــه درپســـــې شـــــي خـــــوږه يـــــاره
نـــــه لـــــرم د بېلتانـــــه دې زړه کـــــې تـــــاب

راشـــــه، راشـــــه د زړګـــــي مـــــې نورټکـــــور شـــــه
پـــــه جفـــــا بانـــــدې دې وريـــــت کړمـــــه کبـــــاب

هـــره مينـــه تـــل د غـــم خـــالي داســـتان دی
تـــورو شـــپو د بېلتانـــه کړمـــه بيتـــاب

د زړه ګـــل مـــې ســـتا ديـــدن بانـــدې خـــړوب دی
ځکـــه جـــوړ مـــې دی پـــه زړه د غـــم خونـــاب

زمـــا ســـوچ کـــې بـــه ترمرګـــه پـــورې پـــايې
بـــې لـــه تانـــه رژېـــدلی دی خـــراب

مينـــه غـــواړي ډيـــرې ســـختې ډيـــرې ســـتونزې
چـــې لوســـتلی مـــې دی ســـتا د مـــخ کتـــاب

ښـــاپيرۍ مـــې د جهـــان ډيـــرې ليـــدلي
اســـان نـــه دي بويـــول د هـــر ګـــلاب

کـــه تمامـــه نـــړۍ تـــا ســـه پرتلـــه کـــړم
ســـتا ښايســـت د ټولـــو مـــنځ کـــې لاځـــواب

ســـتا محفـــل تـــه مطيـــع راغـــی او تـــه نـــه يـــې
جـــوړ لـــه ســـترګو نـــه روان يـــې دی ســـيلاب

سرو شونډو دې زما په زړه انګار ولګاوه
سالو دې سورکی اور په سپين سهار ولګاوه

ځلا دې د سپين مخ کړه د نرګس بڼه بدله
چې مخ يې ستا په مخ باندې يو وار ولګاوه

د زلفو خوشبويي دې د ګلاب عطرونه ورک کړل
نسيم چې ښکلی باد ستا په رخسار ولګاوه

خبر يم چې سرې شونډې دې خوږلې سور پېزوان وې
تهمت دې په عالم کې په ما خوار ولګاوه

په زلفو دې تړلی بنديوان دې شوم د عمر
اوس ماته دې د مينې داسې دار ولګاوه

د مينې او ادا په خوند دې پوی کړمه پخپله
ډېر ژر دې بيا بندیز په خپل ديدار ولګاوه

سل چنده شوله ډېره ستا ښکلا د سپين بشر
د ګلونو دې په زلفو چې قطار ولګاوه

شراب د سرو لبانو دې په جام د وصل راکړه
بيا خير که مې چا سر په سر د دار ولګاوه

رضا يې خپله پرېښوده او ستا په رضا ګرځي
رؤفي چې په سينه دې لکه هار ولګاوه

مه راځه اختره

مـــه راځـــه اختـــره زمـــونږ چـــم کـــې خوشـــالي نشـــته
دلتـــه دي غمونـــه ســـتا راتلـــو تـــه هرکلـــي نشـــته

دا خـو انصـاف نـه دی چـې د غـم سـره خوښـې دې وي
ببرته پـه شـاه لاړ شـه زمـونږ زړونـو کـې خوښـي نشـته

ګـوره د غمونـو سـره زوړ کـال پـه مـونږ نـوی شـي
لا نـــاورين اوږديـــږي لا زمـــونږه نيکمرغـــي نشـــته

ځيـرې ګريـوان ګرځـي لا بچـي زمـونږ پـه کلـو کـې
ځـوک وايـي چـې دلتـه پـه دې خلکـو کـې نيسـتي نشـته

مـــونږه نـــه شـــپې د اخترونـــو هيـــرې شـــوې دي
کـــال پـــه کـــال غمونـــه د ولـــس مـــو ســـوکالي نشـــته

زړونه ټول مړ ژوانده موسکا نه ښکاري په شـونډو اوس
شته دي ځوانان ډېر خو په حجـرو کـې يـې مسـتي نشـته

تـــل خـــو اخترونـــه پـــه پېغلوټـــو ښايســـته بـــه ؤ
وران مـــو اوس ګـــودر دی د پېغلوټـــو آ شـــرنګي نشـــته

هـر اختـر زمـونږ پـه راشـه درشـه د خپلوانـو جـوړ
نيـت يـو بـل تـه بـد مـو دی تـر منځـه خواخـوږي نشـته

څنګـــه زه اختـــره پـــه خنـــدا، خنـــدا دي ونمـــانځم
سـر پـه سـر غمونـه دي خوښـی تـه وخـت بيخـي نشـته

وګـــوره اختـــره د يتـــيم ســـترګو کـــې غـــم تـــه لـــږ
څـومره بـد نصـيب دی چـې پـه غـاړه يـې کـالي نشـته

لاړ شـــه خـــو ولـــس نـــه د مطيـــع چـــې مـــرور نشـــې
هغـه وخـت راسـتون شـه چـې بيـا دلتـه ځانځـاني نشـته

هـــر پيغـــام پـــه وينـــو ســـور دی خوښـــي نشـــته
بنـــار او کلـــی مـــې تنـــور دی خوښـــي نشـــته

زه پـــه خپلـــې بربـــادۍ بانـــدې پـــوی نـــه شـــوم
څـــه ګنـــاه څـــه مـــې قصـــور دی خوښـــي نشـــته

د فرعـــون لښـــکرې بيـــا راپســـې ګرځـــي
هـــره ورځ د غـــم ســـرور دی خوښـــي نشـــته

دا پـــه مـــونږه چـــې څـــه کېـــږي خپلـــه لاســـه
ســـکه ورور راتـــه تربـــور دی خوښـــي نشـــته

اســـتعمار پـــه شـــنو ډالـــرو يـــو اخيســـتي
هـــر افغـــان دومـــره مجبـــور دی خوښـــي نشـــته

معشـــوقې څهـــرې د ګـــل دي خـــو بـــې بويـــه
مصـــنوعي يـــي د مـــخ نـــور دی خوښـــي نشـــته

چـــې حـــالات د افغانـــانو مطيـــع ګـــوري
ســـم پـــه زړه بانـــدې رنځـــور دی خوښـــي نشـــته

هـــر ســـهار چـــې پـــه غـــاټول پرخـــه وريـــږي
داســـې زړه بانـــدې مـــې ســـتا يـــاد راخـــوريږي

انصـــاف وکـــه خـــدای لپـــاره زمـــا ګرانـــې
يـــو ځـــل راشـــه د زړه خونـــه مـــې ورانيـــږي

لکـــه پاڼـــه د ګـــلاب خـــزان کـــړه مـــړاوې
ســـتا ګـــلاب اوس پـــه واړه شـــمال رژيـــږي

د تقـــدير پـــه زولنـــو کـــې را حصـــار يـــم
بـــد نصـــيبه شـــومه يـــار رانـــه بېليـــږي

چـــې ريبـــار راتـــه پيغـــام د مينـــې راوړ
لـــه وسواســـه زمـــا زړه هســـې درزيـــږي

د وړمـــو نســـيم راوړی لـــه تـــا زيـــری
ســـتا راتـــګ تـــه شـــا و خـــوا ټولـــه نڅيـــږي

پـــه ګوګـــل کـــې دې دننـــه لـــږ ځـــای راکـــړه
بـــې لـــه تانـــه مـــې ماشـــوم زړه نـــه صـــبريږي

کبرجنـــې رؤفـــي تـــه يـــو ځـــل ورشـــه
لپـــې اوښـــکې پـــه لېمـــو يـــې نـــن څڅيـــږي

هـر وختـې دې خيالونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي
دا سـتا د عشـق يادونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

پـه عشـق کـې دې د هجـر او وصـال خبـرې اورم
د مينـې پـټ رازونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

داغلـی مـين زړه مـې د وصـال پـه تمـه، تمـه
عجيـب غريـب سـوچونه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

د مينـې سـمندر کـې ارمانونـه سـترې، سـترې
واړه او غـټ موجونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

منـزل تـه رسـېدو کـې مـې کـاروان پـه لار روان دی
ترخـه، ترخـه وختونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

پـه زړه کـې مـې د هيلـو غـوټی ټـولې وچـې ښـکاري
د وخـت دا سـتمونه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

رييـار دی رانـه تللـی غـږ مـې نـه رسـي جانـان تـه
سـاړه، سـاړه بادونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

دا پـاس خـو وريځـې نـه دي دا زمـا د زړه لـوګی دی
زمـا سـوي اهونـه د زړه کـور تـه ځـي راځـي

نــه خــوب شــته نــه ارام او نــه موســکا زمــا پــه شــونډو
د اوښـــکو بارانونـــه د زړه کـــور تـــه ځـــي راځـــي

ليمـــي شـــولې راډکـــي تږمـــې اوښـــکې مـــې څڅېـــږي
څپــو کــي مــې رودونــه د زړه کــور تــه ځــي راځــي

بېګــاه چــې تــر ســحره ســتا څنګــل مــې وه ســر لانــدې
تراوســـه دې خوندونـــه د زړه کـــور تـــه ځـــي راځـــي

عـــالم د تخيـــل کـــي دې پـــه ســـپين مړونـــد وده شـــوم
خــوارې رنګــين خوبونــه د زړه کــور تــه ځــي راځــي

مـــا وکـــړې غزونـــې پـــه شـــعرونو او تپـــو کـــې
د زنـــې شـــنه خالونـــه د زړه کـــور تـــه ځـــې راځـــي

مطيـــع دې د پـــايزېبو د شـــرنګا ســـره اشـــنا کـــړ
نغمـــې دې غزلونـــه د زړه کـــور تـــه ځـــي راځـــي

هره شپه خوب کې ستا د زلفو ولونه، ولونه وينم
لکه تړلی بنديوان په کې جيلونه وينم

ستا په اوږو چې دغه تور، تور ښامار ان پراته دي
زه په زوال مې ټول نيمګړي ارمانونه وينم

ستا د سينې په حرم ښکته د کوڅو لړونه
پکې دانه، دانه ښايسته ښکلي ګلونه وينم

په اننګو کې دې اثر زما د وينو پروت دی
د زړه پردو کې مې د سوي زړه داغونه وينم

چې درته ګورمه خمار شمه بې مينو ګلې
د پيمانو په شان دې سترګې خمارونه وينم

زما احساس دی تخنې دلی د وصال شپبو ته
ستا د سرو شونډو په پيالو کې شرابونه وينم

دا ستا د مينې په وصال کې سر تر پايه ډوب يم
په دې خيالونو کې تل ستا زلفې ټالونه وينم

يو خاموشي ده د وصال زمونږ د دواړو تر منځ
بل دې په سترګو پښتنو کې ډپر ستونه وينم

زه چې د ګل او د بلبل تر منځه راز وګورم
په زړه مې ستا د جفا اينې پرهرونه وينم

دا سور پيزوان دې په سرو شوندې لکه پانه د ګل
کاشکې پيزوان واى تل په خيال کې دا خوبونه وينم

چې ستا په ياد کې کله وزانګم د فکر په ټال
لکه ميخوار دې دواړه سترګې ډک جامونه وينم

مطيع پوهيږم چې فراق مې په وصال بدليږي
ځکه په خوب کې هره شپه دې تصويرونه وينم

هـــم قاتـــل او هـــم مقتـــول د ژونـــدون خپلـــه
د خپـــل ځـــان د ورکړيـــدو پـــه لټـــون خپلـــه

د ژونـــدون لـــه بهيـــر تـــل دی شـــاته پـــاتې
لـــه نـــړۍ ځخـــه هـــم پـــاتې او ســـتون خپلـــه

د پـــردو لپـــاره ســـر او مـــال نـــه تېـــر دی
خـــو د ځـــان حـــق کـــې کنجـــوس او قـــارون خپلـــه

نيمنـــی ورپکـــې نشـــته هـــر يـــو مـــن دی
هـــر يـــو ځـــان لـــه دی جـــوړ کـــړی قـــانون خپلـــه

ځـــه پـــه ورکـــو لارو وړي د ژونـــدون پېټـــی
د حـــالاتو کړلړچونـــو ازمـــون خپلـــه

چـــې بـــدلون پـــه ځـــان کـــې خپلـــه پيـــدا نـــه کـــړي
را بـــه نشـــي پـــه هـــېڅ قـــام کـــې بـــدلون خپلـــه

ځـــوک چـــې خپـــل برخليـــک خپلـــه بـــدل نـــه کـــړي
تـــر هغـــې بـــه وي ذليـــل او زبـــون خپلـــه

مـــا لـــه مـــا زمـــا د کرکـــې راز ونـــه مونـــد
د خپـــل ځـــان ولـــې دښـــمن دی پښـــتون خپلـــه

نـــو تـــر څـــو بـــه يـــو پښـــتون بـــل پښـــتون وژنـــي
دوی پـــه ځـــان بانـــدې ظـــالم او قتلـــون خپلـــه

چـــې يـــووالی پـــه خپـــل مـــنځ کـــې پيـــدا نـــه کـــړي
لـــه دايـــرې بـــه د نـــړۍ وي بيـــرون خپلـــه

لـــه کتـــاب او لـــه قلـــم کـــه پـــاتې کيـــږي
لانـــدې وي بـــه تـــر خبـــرو مضـــمون خپلـــه

مطيـــع مـــه پوښـــته چـــې درد بـــه دې دوا کـــړي
درمـــان نشـــته مـــا ورک کـــړی ســـکون خپلـــه

ورلـــه ښـــکته مـــې کـــړل ســـتوري د آســـمان
لا پـــه دې کـــې قايـــل نـــه شـــو مـــې جانـــان

د زړه وينـــې پـــه کاســـو مـــې ورلـــه ورکـــړې
د زړې غونـــــــدې لا نشـــــــو مهربـــــــان

د وختونـــــو د پاچـــــا بـــــه مخـــــالف شـــــم
د جانـــــان مخالفـــــت دی راتـــــه ګـــــران

دا خپـــل ســـر مـــې صـــدقه کـــې ورتـــه کېښـــود
خـــو بيـــا هـــم يـــې پـــه مـــا ونـــه کـــړو خفګـــان

ســـــيلابونه مـــــې د اوښـــــکو را روان دي
خـــو جانـــان لا راتـــه نـــه وايـــي قربـــان

هـــر يـــو يـــاد يـــې پـــه زړګـــي کـــې مـــې ناســـور دی
چـــې د زړه پـــه ســـترګو يـــې ويـــنم هـــر زمـــان

رؤفـــي يـــې نـــور ښلتـــون زغملـــی نشـــي
پـــه زړه پـــاتې يـــې نيمګـــړی دی ارمـــان

سړي غوټې لـه ګل جـلا شـوم غوړېـدو تـه پـاتې نـه شـوم
ژړا اوښـکې واويـلا شـومه سـلکو تـه پـاتې نـه شـوم

خپلـو ښـکيل کـړو د پردیـو پـه دامونـو ډېـر کلونـه
روغ رمټ وم نيمـه خـوا شـوم رغېـدو تـه پـاتې نـه شـوم

لـه آمـو تـر آباسـينه يـو ټبـر ومـه پښـتون وم
پـه څـو برخـو يـې جـلا کـړم يـو کېـدو تـه پـاتې نـه شـوم

پـه سـينه يـې د چـړو کړښـې راتيـرې کـړې زخمـي يـم
ناسـور شـوي مـې زخمونـه جوړېـدو تـه پـاتې نـه شـوم

لکـه ورک شـي لـه يعقوبـه، يوسـف مخـی نـازولی
ورونـو پرېښـودم يـوازې خرڅېـدو تـه پـاتې نـه شـوم

زړه مـې ډک دی روڼـي خـو بېوسـۍ مـې لاس تړلـی
پر دښمن د ګذار وخـت دی خـو ويشـتو تـه پـاتې نـه شـوم

په غزي چې سري ګولۍ راورپدې
دواړه سترګې مې بې واره ژړپدې

د پنجاب او اسرايل ظلم يو ډول
فلسطين وزير دي دواړه بې اسري

د هوا نه پري د سرو ګولو باران ؤ
لور په لور باندې خوري به وې چري

د چا ښپې او د چا سر ورپوري نه ؤ
پېغلې نجونې هم په وينو کې پرتې

پټول يې خپل زخمونه په منګولو
هم يې کور او هم کوڅې په وينو سري

د هوا مرغانو ساندې غږولې
په سلګو او په ژړا کې الوتې

کور او کلی هم په ښار باندې ماتم ؤ
د سرو وينو تري ويالې به بهېدې

ښـــځې، نـــر، واړه، زاړه ځوانـــان خـــو يـــو خـــوا
هـــــم مرغـــــانو څخـــــه وينـــــې څڅېـــــدې

داســـــې ظلـــــم کلـــــه نـــــه دی مالیـــــدلی
د ســـــرو وينـــــو بـــــه ډډونـــــه ؤ کـــــوڅې

د مطيـــع لـــه ســـترګو اوښـــکې بـــه خـــود څـــاڅې
چـــــې د ظلـــــم دا څپـــــې يـــــې وليـــــدې

چې دې زلفې جوړې کړي ولونه، ولونه
پکې اينې دې قطار، قطار ګلونه
د ښايست او د ښکلا دې دبدبه ده
هر طرف ته ستا په نوم جوړ دي سازونه
شا و خوا باندې راټول دې ډېر عالم دی
پکې جوړ دي د ځوانانو اتڼونه
دا سرې شوندې دې ګلاب دي بل څه نه دي
دي له شاتو نه خوارې يې شربتونه
بې سينګاره له سپورمۍ نه ښايسته يې
پروا نشته که ونه کړې سينګارونه
ستا د مخ او د سپورمۍ مقابله ده
ستوري څه درته حيران دي آسمانونه
سپين غاښونه دې پرقبرې سپينه خوله کې
لکه وي چې چا پېيلي مرجانونه
مونډی نه شي ستا ثاني په کاينات کې
که څوک ولټوي ځمکې نظامونه
اننګې دې لکه ښکلې سرې مڼې دي
ورته نشي رسېدی سره انارونه
ستا باڼه دومره تپره او ښايسته دي
هر مين ته په زړګي دي خنجرونه
چې مې يو نظر داستا سترګو ته وکړ
په زړګي دې رالې بل کړه سره اورونه
په مزه، مزه چې ستا بشر ته ګورم
بې اختياره مې تول سوزي اندامونه
په ورو، ورو چې ته داخله شوې ګلشن ته
پټول ګلانو خپل ښکلي مخونه

د لېنـــدې غونـــدې جـــوړه دې ښايســـته وروځـــې
داســـې دي لکـــه آســـمان کـــې کمانونـــه
تـــوري زلفـــې دې پـــه ســـپين مـــخ راخـــورې دي
چـــې وهـــې دې اننګـــو بانـــدې ټالونـــه
ســـتا خنـــدا او پـــه ادا کـــې خـــاص اثـــر دی
جـــوړوي د هـــر عاشـــق پـــه زړه داغونـــه
کـــوم عاشـــق ســـره چـــې دوې خبـــرې وکـــړې
شـــې تـــرې لـــرې د جهـــان واړه غمونـــه
ســـتا رفتـــار او حرکـــات دي داســـې ښـــکلي
دا غـــرور دی، تکبـــر کـــه مکړونـــه
پـــه زړګـــي دې هـــر ســـړی حـــلال، حـــلال کـــړ
پـــرې لوبـــدلي ســـتا د ســـترګو دي بمونـــه
چـــې مـــې ولیـــدل خالونـــه ســـتا پـــه زنـــه
پـــه ناســـور بانـــدې بـــدل مـــې شـــول زخمونـــه
چـــار چـــاپېره چـــې نظـــر کړمـــه تـــه نـــه یـــې
پـــه ژړا مـــې ســـترګې ســـرې اوښـــکې رودونـــه
ســـتا د مینـــې بنـــدیوان شـــومه ناڅاپـــه
خـــوب مـــې ورک شـــو اوس کومـــه شـــبګیرونه
د وصـــال پـــه تمـــه ناســـت دې یـــم حیـــران یـــم
شـــپه او ورځ کـــې راتـــه نـــه راځـــي خوبونـــه
پـــه ســـوچونو کـــې دې داســـې یـــم ورک شـــوی
پـــه ځـــان پـــوی نـــه یمـــه خورمـــه تیندکونـــه
د دنیـــا لـــه هـــرې چـــارې نـــور بېـــزار یـــم
چـــې مـــل شـــوي مـــې دي ســـتا د عشـــق یادونـــه

ټولـــه شـــپه دې زه پـــه فکـــر کـــې ژړېـــږم
ارام نشـــته پـــه وجـــود کـــې مـــې دردونـــه
نـــه پـــوهيږم چـــې بـــه کلـــه خوالـــه راشـــې
پـــه زانګـــو د خيـــال کـــې ســـتا وهـــم ســـوچونه
کـــه شـــربت د ســـپينې خـــولې دې رالـــه راکـــړ
ښـــه پـــوهيږم چـــې بـــه جـــوړ مـــې شـــي ټپونـــه
دا شـــپې د انتظـــار بـــه شـــي رنګينـــې
چـــې د مينـــې پـــر مـــا وشـــي بارانونـــه
کـــه يـــو ځـــل دې پـــه وصـــال باندې زه مـــوړ شـــوم
د عمرونـــو بـــه شـــي لـــرې خفګانونـــه
هـــر ارمـــان بـــه مـــې د زړه هلـــه پـــوره شـــي
چـــې دې واچـــوم پـــه غـــاړه اميلونـــه
رؤفـــي بـــه ســـتا لـــه مينـــې نـــه وانـــه وړم
مـــا نيـــولي درتـــه لاړې ګودرونـــه